اسدآباد باندی د سکډ میزائیلو په حمله کښی دری سوه کسان مړه او ۷۰۰ سوه نور سخت ټپیان شول. (ډان ورځپانه ۲۲ اپریل)

د کابل د کمونست رژیم لخوا د کونړ په مرکز اسدآباد باندی د سکډ میزایلو دوه فیره وکړی شول چه په نتیجه کښی ۳۰۰ سوه بی گناه کسان مړه تقریباً ۷۰۰ نور سخت ټپیان شول، کیدای شی چه د مړو شمیره ددی نه نوره هم زیاته شی.

مقامی مجاهدینو او د دعوت د روغتون کارکوونکو ټپی شوی کسان د باجوړ او پیښور روغتونو ته رسولی دی.

ددی پیښی یو عینی شاهد سراج چه د چترال اوسیدونکی ډریوز دی وائی چه پدی پیښه کښی د چترال اوسیدونکی هم مړه شوی چه مړی یی د یو هوټل مخی ته پراته وو او بعضی نور پاکستانی کسان چه هلته یی تجارتی کاروبارؤ هم پدی پیښه کښی مړه یا زخمیان شویدی.

پدی پیښه کښی د اسد آباد د ښار په څلور کلومتری کښی ټول دکانونه او عمارتونه په مکمل ډول تباه شوی او یا سخت زیانمن شویدی.

د اسدآباد په پیښه کښی چترال ته تلوونکی مسافر شهیدان شول (مشرق ۲۲ د اپریل)

د کابل د کمونست گوداگی رژیم لخوا چه په اسدآباد د سکډ کومه حمله وشوه په هغی کښی د نورو نه علاوه چترال ته تلوونکی (۶۰) مسافر چه ښځی، ماشومان هم په کښی شامل وو شهیدان شول. دغه مسافر د د می لپاره د اسدآباد ښار ته ستانه شوی وو.

اخبار زیاتوی: د ژمی لخوا چه کله د لوری ټاپ (د دیر او چترال) په لاره واوره وشی او دغه لاره د ترافیک پرمخ بنده شی، نور د چترال خلک دری میاشتی د کونړ په لاری چترال ته سفر کوی.

په کونړ باندی د سکډ میزائیلو حملی به د افغان مسلمان ملت حوصلی نوری هم اوچتی کړی (د جنگ ورځپانه ۲۳ د اپریل)

د کونړونو د اسلامی امارت د داخله چارو رئیس حاجی روزی خان او د امارت اسلامی د دارالانشاء رئیس استاد شهیدالله په یوه مطبوعاتی مرکه کښی خبریالانو ته وویل:

د افغانستان مسلمان مجاهد ملت د قربانیو او سربښندنی سره عادی دی، او دا ډول واقعات به یی حوصلی نوری هم اوچتی کړی، مونږ به د کابل د کمونست رژیم په نظامی تأسیساتو داسی غاښ ماتونکی حملی وکړو چه کمونستان او د هغوی باداران ئی یاد ساتی.

د کونړ په پیښه کښی د نورو نه علاوه د امارت اسلامی د پولیسو قوماندان محمد عارف او د امارت اسلامی د شورا غړی مولوی اصغر هم په شهیدانو کښی شامل دی (جنگ ۲٤ د اپریل)

د اسدآباد نه رارسیدلی تازه خبرونه وائی چه د هغه ولایت په مرکز اسدآباد باندی د سکډ میزائیلو په حمله کښی د مړو شمیره (۵) پنځه سوو کسانو او د ټپیانو شمیره اتو سوو ته رسیدلی چه زیاتره ژوبل کسان یی د پیښور، باجوړ او مهمند ایجنسی روغتونونو ته منتقل کړی شوی دی.

منبع وایی د (۵۰۰) سوو مړو له جملی نه د شپږ څلویښت کسانو شناخت شوی چه پکښی امارت اسلامی د پولیسو قومندان محمد عارف او د امارت اسلامی د شورا غړی مولوی اصغر هم شامل دی.

عدل او انصاف په اسلامی امارت کښی

«ان الله یأمرکم ان تـودو الامانات الی اهلها و اذا حکمتم بین الناس و أن تحکموا بالعدل... الایة»
(النساء ۸۵)

د افغانستان د کونړونو اسلامی امارت چه د دغی سیمی د ټولو مجاهدو ځواکونو دانتخاب په اساس منځته راغلی ، هیله لری چه د دغی سیمی د خلکو په ټولو ورځنیو چارو او د ژوند په ټولو ابعادو کی د الله تعالی سپیڅلی او پر مختللی قانون چه د هر عصر او زمان سره سمون لری ، حکومت وکړی .

د الله تعالی قانون چه د بشر د نیکمرغی متضمن دی ، تقاضأ لری چه د خلکو تر منځ دی د عدل او انصاف پر بناء فیصلی وشی ، هر چا ته دی د الله د قانون په سیوری کی خپل خپل حقوق ورسیږی . پدی اساس مونږ دیو شمیر پریکړو او فیصلو نمونی خپلو درنو لوستونکو ته وړاندی کوو او انشأالله د آینده لپاره به هم د دعوت مجله د نورو فیصلو دنشر او اشاعت کوښښ وکړي .

دکونړ له اسلامی امارت څخه زمونږ نماینده خبر را کوی چه د «اسدآباد» د «کرمول» د کلی یو اوسیدونکی «احمدجان» د «معتبرخان» زوی د خپلی ښځی « بخت پری » او د هغی د نامشروع آشنا «ادب گل» له خوا په شریکه په ۶ / ۵ / ۱۴۱۱ هجری قمری نیټه ووژل شو د مقتول وارثان اسلامی امارت ته عارض او د امارت له مقام نه ئی د انصاف غوښتنه وکړه .

اسلامی امارت د قاتلانو د گرفتاری لپاره د اسلامی امارت پاسدارانو ته احکام صادر کړل .

د اسلامی امارت پاسدارانو ، نوموړی قاتلان په ۲۱ / ۵ / ۱۴۱۱ هجری قمری نیټه گرفتار او د چارو مسئولینو ته وسپارل د یو لړ لازمی اجرأتو او تحقیقاتو له تکمیل نه وروسته ، قاتلانو په خپلوکړو اعتراف وکړ او دوسیه ئی د شرعی فیصلی لپاره د امارت د قضأ مقام ته وړاندی شوه .

د اسلامی امارت د قضأ ریاست د مولوی صاحب احسان الله په مشرئ د علماؤ او قاضیانو په محضر ، له شرعی تعلیماتو سره سم ، لکه چه الله تعالی فرمائی :

«و لکم فی القصاص حیاة یا اولی الالباب ... الایة» .

مجرمانو ته د قصاص فیصله واوروله ، په ضمن کښی د مقتول له وارثانو څخه د مسئلې د حل د نورو لارو چارو لکه دیت او معافی غوښتنه وشوه ، خودمقتول د وارثانو له خوا دا غوښتنه و نه منل شوه او په قصاص ئی ټینگار وکړه . بالاخره د اسلامی امارت د ساتندویانو په مرسته په ۸ / ۶ / ۱۴۱۱ هجری قمری نیټه په قاتلانو باندی د الله تعالی حکم(قصاص) تطبیق کړای شو .

همدارنگه ، زمونږ نماینده له اسلامی امارت څخه د الله تعالی د یو بل حکم (قصاص) په هکله داسی اطلاع را کوی : د کونړ د ولایت د «پیچ» د ولسوالۍ د «چپې درې» د علاقداری د «ورسك» د کلی اوسیدونکی «محمد عمران» او دوه زامنو ئی هر یو گل

احمد خان او احمد خان د همدغه ځای درې تنه اوسیدونکی هر یو «سیدالله» او دوه زامن ئی محمد خطاب او غلام سید په ۲۸ / ٤ / ۱٤۱۱ هجری قمری نیټه وژلی وو.

د مقتولانو وارثان اسلامی امارت ته عارض او د انصاف غوښتنه ئی وکړه اسلامی امارت د قاتلانو د گرفتاری په هکله د امارت پاسدارانو ته احکام صادر کړل. د اسلامی امارت پاسدارانو قاتلان گرفتار او د شریعت منگولو ته ئی وسپارل قاتلانو په خپل جرم اقرار وکړ اودچارو مسئولینو له لومړی اجراٰتو او تحقیقاتو وروسته د هغوی دوسیه د قضا مقام ته وسپارله.

د قضأ ریاست د مولوی صاحب احسان الله په مشرۍ د علماؤ او قاضیانو په محضر له شرعی تعلیماتو او احکامو سره سم چه الله تعالی فرمائی:

«و لکم فی القصاص حیاة یا اولی الالباب ....الایة»

مجرمانو ته د قصاص فیصله واوروله، په ضمن کی د مقتولانو له وارثانو څخه د مسئلې د حل د نورو لارو چارو لکه دیت او معافی غوښتنه وشوه، د حاضرینو د ټینګار په اساس د مقتولانو وارثانو «احمد خان» قاتل ته چه صغیر هم ؤ، عفوه وکړه او د نورو دوه قاتلانو په قصاص ئی ټینگار وکړ. بالآخره د اسلامی امارت د ساتندویانو په مرسته په ۲۸ / ۸ / ۱٤۱۱ هجری قمری نیټه په دوه قاتلانو هر یو «محمد عمران» او زوی ئی «گل احمد خان» باندی د الله تعالی حکم (قصاص) تطبیق شو.

د پورتنیو دری تنو قاتلانو د قصاص په مناسبت د اسلامی امارت د امیر شیخ جمیل الرحمن پیغام:

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله چه نن مونږ او تاسی ټول ځانونه په داسی یو عمل کی مصروف وینو د کوم په منظور چه اسلامی جهاد شروع شوي وو او وعده مو کړی وه چه د الله په ځمکه به د الله د حکمونو تطبق کوو، د دی عمل اجر او ثواب دځان او ټولو لپاره د الله جل جلاله له حضورڅخه غواړم.

ورونو! د اسلامی جهاد په دوران کی ډیر انسانان وژل شوی دی، ځینی هغه خلك وژل شوی دی چه مرتد او کمونستان وو، هغه هم د الله جل جلاله د حکم په اساس زمونږ او ستاسو دمجاهدینو په لاسونو وژل شوی دی او د جهنم کندی ته سپارل شوی دی، د کنړونو د ولایت له فتحی څخه وروسته چه دا منطقه الله په خپل نصرت او تائید زمونږ او ستاسو په تسلط کی راکړه او مونږ د الله په حکم د اسلامی امارت بنیاد کیښود، له هغه وخت راهیسی هم اسلامی امارت، د خپلی اسلامی فریضی او وجیبی له مخی، ځینی هغه خلك چه دالله د حدودو لاندي راغلی، د خپل عمل په سزا رسولی دی.

د الله جل جلاله د قصاص او رجم حدود هم په هغو جاری شوی دی چه لاری ئی قطع کولی، د خلکو آبرو او عزت ته ئی صدمه رسوله او د خلکو ژوند ئی په ناآرامی کی غورځولی وو، چه نن هم د الله جل جلاله د حدودو د تطبیق په سلسله کی دری قاتلان ستاسو په حضور او د شرعی محکمی په محضر کښی حاضر ولیدل شول او د هغوی د ناروا عمل ټول هغه جریان تاسو ته قولاً او تحریراً په اسنادو سره د شرعی محکمی له خوا وښودل شول او واورول شول، دا حال د ځان اوستاسو ټولو مسلمانانو لپاره سعادت گڼم.

او په آیند کی دي هم الله جل جلاله په صراط مستقیم باندی د ټولو توفیق راکړي.

ورونو! د دی لپاره چه د امن فضا ب

حال شی ، د خلکو آبرو او عزت محفوظ وساتل شی او خلك د امن په فضاکی خپل ژوند سر ته ورسوی ، نو الله جل جلاله دا حکمونه رالیږلی دی چه د دوئ د تطبیق په نتیجه کښی به د ځمکی پر مخ امن راځی. د الله حکمونه چه څه وخت د ځمکی څخه پورته شی ، نو که ټوله نړۍ بیا د امن او صلحی ناری ووهی او ټوله دنیا پولیس شی ، د امن امید نشی کیدلی . لکه چه نن د دنیا حالت وینی او اورئ ئی ، دا خبره بار بار تاسو ته آزادی منطقی د اوسیدونکو ، عزت او آبرو ته خطر متوجه کوی او د اسلام ضد اعمالو مرتکب کیږی ، د دی معاشری څخه به ژر تر ژره تصفیه شی او د الله جل جلاله د حکم د تطبیق په نتیجه کی به په طبیعی توګه امن رامنځ ته شی .

مونږ وایو : چه مونږ او تاسو ورونه او ټول مسلح یاستو ، په ډیره وړه او جزئی خبره باندی را ته غرور او تکبر را پیدا کیږی ، د اسلامی اخلاقو او آدابو د کمزوری په وجه مو بیا یو بل حکم د تطبیق مخه ونیسی که دقوت او طاقت خبره وی ، نو وګورئ چه شاوخوا داسلامی امارت څومره مسلح پولیس ولاړ دی ، مونږ او تاسو څومره ډیر حاضرین جمع شوی یو . دا حاضر مجرمان چه غیر حق ئی دمسلمانانو وینی توئی کړی ، آیا کولی شی چه دمقتولینو له دغو وارثانو څخه ئی خلاص کړی ؛ هیڅکله دانه شی کولی . حق پرمونږ ټولو غالب دی. ددی قاتلانو دخلاصون واك دمقتولینو له دغو ولاړو

> «د الله حکمونه چه څه وخت د ځمکی څخه پورته شی ، نو که ټوله نړۍ بیا د امن او صلحی ناری ووهی او ټوله دنیا پولیس شی ، د امن امید نشی کیدلی . لکه چه نن د دنیا حالت وینی او اورئ ئی».

شوی ده چه په ځینو متمدنو دولتونو کی کله نا کله اعدام کیږی او په ځینو خاصو مواردو کی اعدام ته خبره جوړه وي او اعدام هم تطبیق کوی ، لیکن د امن د تامین په خاطر د فوج او پولیس په موجودګی کی هم تاسو وینئ چه په ځینو دولتونو کښی د بی ګناه خلکو وینی توئیږی او د مقتونو د اطمنان وړ امن په سترګو نه لیدلی کیږی ، لیکن دا چه دلته ایمان شته ، د الله د احکامو تطبیق صورت نیسی نو ټول هغه مجرمان ، قاتلان او قطاع الطریق چه د اسلامی جهاد د بری متد جریان په بسلسله کی د دی ته د ټوپك خوله نیولی وی او یو په بل ظالم ګرځو . دا درته په ډاګه وایو چه د دی ډول ناروا اعمالو د مرتکبینو د خلاصون لپاره نه سفارش چلیږي او نه څه نور شیطانی وسایل په کار راځی ، بلکه په پاك نیت به د الله جل جلاله حکم تطبیق کیږی او مونږ او تاسو ټول به ورته غاړه ږدو ، د حکم د تطبیق واك چه د کوم مظلوم په لاس کی دی ، د هغه خوښه ده چه څوك بخشش کوی او که ئی نه بخشش کوی ، د حاجی صاحب ، امیر صاحب ، قوماندان صاحب او مولوی صاحب په لاس کی څه نشته چه د وارثانو سره دی که دوئ ورته عفوه ونه کړی مونږ هیڅ نه شو کولی چه بار بار مونږ او تاسو دی وارثانو ته په دی محضر کی وویل چه دیت واخلی او یا عفوه ورته وکړی لیکن وئی نه منله ، یو تن ئی عفوه کړ او دوه تنه ئی قصاص کړل. خدای نا خواسته که مونږ دا حکم معطل کړی وای او په یوه او بله بهانه مو دا قاتلان د مقتو لینو د وارثانو در ضایت څخه په غیر ـــ خوشی کړای وای ، نو بیا مونږ ټول الله جل جلاله ته مسئول وو.

ددی حق مونږ ته الله نه دی را کړی مونږ نشو کولی چه دقدرت څخه کار واخلو . همدغه ضعیفه مظلومان او

دمقتولینو وارثان چه په مودو مودو ئی د خپل انتقام د اخیستلو وس نه درلود ، چون حق او قانون او شریعت ـــ او قرآن د هغوی په طرف ولاړدی ، اوس زورور هغوی دی .

ستاسو د ټولو فریضه داده چه په اسلامی اخلاقو او عاداتو یو له بل سره ژوند تیر کړئ ، د یو بل مټ او شی .

تاسو ټولو ته دالله په نصرت په اطمـنـان سره وایـو چـه ټـول هـغـه مجرمان ، قاتلان او قطاع الطریق چه ځینی ئی تراوسه دقانون په منګولو کـی را ګـیـر شـوی نـه دی ، دهـغـو دراګیرولو او داسلامی شریعت منګولو تـه د هـغـوی د سپـارلـو را پـه غـاړه مجرمانو ته ځای ورکړی لکه څرنګه چه ئی دهریانو او کمونستانو ته ځای ور نکړ . په آخر کی زما توصیه تاسو ټولو وروڼـو تـه داده . چـه سـتـاسـو د ټولو علـماؤ مـشرانو قـومـانـدانـانـو مجاهدینو او مسلمانانو وروڼو اسلامی فریضه او مسؤلیت دادی چه دالله جل جلاله د قانون دتطبیق په لاره کی

مونږ او تـاسـو وروڼـه او ټـول مسلح یـاستـو ، پـه ډیـره وړه او جزئی خبره باندی را ته غرور او تکبر را پیدا کیږی ، د اسلامی اخلاقو او آدابو د کمزوری په وجه مو بیا یو بل ته د ټوپك خوله نیولی وی او یو پـه بل ظالم ګرځو ، دا درتـه پـه ډاګه وایو چه د دی ډول ناروا اعمالو د مرتکبینو د خلاصون لپاره نه سفارش چلیږي او نه څه نور شیطانی وسایل په کار راځی ، بلکه په پاك نیت به د الله جل جلاله حکم تطبیق کیږی او مونږ او تاسو ټول به ورته غاړه ږدو .

امساء شئ او د الله جل جلاله د احکامو د تطبیق په لار کښی ټولی هغه لاري چاری ولټوئ چه اسلامی شریعت پری توظیف کړی یو .

دا دوه کسان چه اوس قصاص شول او د الله جل جلاله سره محامخ کیږی که ظلم ئی کړی وی ، الله تعالی دی ظلم ور وبخښی . که او لادئی وی الله جل جلاله دي د هغو اولاد ته هدایت وکړی چه د خپلو دی مشرانو له حال نه عبرت واخلی او د نور فساد سبب نه مسؤلیت به تر سره کوو او هغه مجرمان چه نیول شوی او د قانون منګولو ته سپارل شوی دی ، داسلامی شریعت په خوښه به له هغوی سره دقانونی مراحلو له طئی کیدلو وروسته کړنه کیږی . هغه څوك چه قانون ته نه تسلیمیږی ، پاکستان او یا نورو ځایونو ته فرار او پټ شوی دی . د هـغـوی د خـلاصـون ځـای نـه پـه پاکستان کی شته او نه به دافغانستان ، ځمکی مخ دغه ډول ظـالـمـانو او خپل ټول مادی او معنوی قوتونه په کار واچوو . الله جل جلاله راضی کړو او د افـغـانـسـتـان د اسلامی جـهـاد اسلامی وقاراو حیثیت بر حال وساتو . او دیو نیم میلون شهیدانو کونډو ، یتیمانو او معیوبینو شرعی آرمانو ته دعمل جامه ورواغوندو او د الله جل جلاله ، د دین ، وطن او ملت حق ادا کړو

والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

اسلامي امارت او شرعي حدود تطبيق

الحمدلله وحده والصلوة والسلام على من لانبى بعده.

وبعد!

اسلامی امت، د مودو، مودو، راهیسی ډیرو پرله پسی فتنو، لویو غمونو او دسیسو ته ور مخ دی. خلک لاله یوی فتنی څخه خلاص نه وی چه بله غټه فتنه ور پیښه شی. تردی چه مخکینی فتنه نسبت وروستی فتنی ته نرمه وی. له نبی علیه السلام څخه یو حدیث روایت دی چه فرمائی!

«داسی هیڅ یو نبی ندی تیر شوی مګر پده لازمه وه چه خپل امت ته د هغه څه رهنمائی (لار ښونه) وکړی چه دی پوهیږی چه د امت لپاره دغه څیز خیر دی. او خپل امت د هغه څه څخه وویروی چه دی پوهیږی پری چه دا څیز د هغوی لپاره شر دی. او ستاسی د دغه امت (امة محمدی) عافیت په اول سر کښی دی. او آخر ته به یی سخت آزمایښت متوجه شی او داسی حوادث به ورته ورسیږی چه تاسی یی بد ګڼی او داسی فتنی به راشی چه بعضی به بعضی نوری نرمی کړی (یعنی وروستی به دومره سخته وی چه لمړنی به د هغی په نسبت نرمه وی) یوه فتنه به راشی او مؤمن به وائی چه دا خوما هلاکوی، بیا به هغه لری شی او بله به راشی بیا به مؤمن همداسی وائی.

نو هغه څوک چه خو ښه یی وی چه له دوزخ څخه بچ شی او جنت ته داخل شی، پکار ده چه مرګ ورته پداسی وخت کښی راشی چه دی په الله (ج) او د آخرة په ورځ ایمان ولری (۱) او چال چلند وکړی له خلکو سره. هغه چال چلند چه دی یی د ځان لپاره خو ښوی چه د ده سره وشی» (صحیح مسلم)

د اسلام دښمنانو ته چه کله د اسلام قوت معلوم شو. نو د مسلمانانو د صفونو په مینځ کښی یی سستوالی پیدا کړ.

او په سخته «جدائی» سره یی جدا کړل، پداسی حال کښی چه مسلمانانو دلسو پیړیو په شاو خوا کښی، د عالم بشریت قیادت او مشری، په غاړه درلوده.

یو له هغو کارونو څخه چه دښمن تر سره کړل، د مسلمانانو آخری مورچل یعنی (اسلامی خلافت) ړنګول وه، سره لدی چه له کتاب او سنت او د سلف صالحو له لاری څخه یی لیریوالی پیدا کری ؤ.

الله (ج) د خپل دین او د هغه چا د ساتنی ضمانت کړی چه د ده په دین یی منګولی لګولی او

(۱) (د مؤمن به اول او آخر چه ذکر شی مراد تری تول مؤمن به وی)

ریښتینی، موحدین مؤمنان دی.

الله (ج) فرمائی. وعدالله الذین امنوا منکم وعملوا الصالحات لیستخلفنهم فی الارض...

ترجمه: «وعده کړی الله له هغو کسانو سره چه مؤمنان دی له تاسو څخه او عمل صالح ئی کړی وی چه دوی به خلیفه ګان وګرځوی په ځمکه کښی.

اونبی علیه السلام ددی دین د عزت د بیا راتلو خبر را کړی پدی حدیث کښی چه فرمائی:

«په تاسو کښی به نبوت وی (الی ماشاءالله) بیا به الله د نبوت سلسله پورته کړی. کله چه د پورته کولو اراده ئی وکړی. بیا به خلافة علی منهاج النبوة (د انبیاؤ په تګ لیاره) وی او وی به دغه خلافت الی ماشاءالله او بیا به ئی لیری کړی، کله چه یی د لیری کولو اراده وکړه، بیا به. خو له لګونکی امارة وی. او دا به تر هغه پوری دوام وکړی تر کومه چه د الله تعالی اراده وی. او بیا به یی لیری کړی کله چه یی د لیری کولو اراده وکړی. بیا به د جبر امارة وی دا به هم الی ماشاءالله دوام وکړی. او لیری به ئی کړی کله چه یی د لیری کولو اراده وکړی او بیا به خلافة علی منهاج النبوة وی. او بیا نبی علیه السلام سکوت وکړ.»

پدی کښی هیڅ شک نشته چه هغه څه چه سړی ته اطمینان ورکوی. هغه د ملحدو روسانو په مقابل کښی د دغو مجاهدینو قیام دی. هغه روسان چه ځان یی نه ماتیدونکی قوت ګاڼه، خو الله جل جلاله له هر هغه لښکر څخه لوی دی چه ځان نه ماتیدونکی ګڼی. مجاهدینو د نړی مسلمانانو ته اعتماد باالنفس ورکړ او د فی سبیل الله جهاد د بیرغ په اوچتولو سره یی روس او د هغه پلویانو ته شکست ورکړ.

سره لدی چه شمیر او اکمالات ئی کم ؤ او تولو دنیا والو ته یی په ډاګه کړه چه کفر نه شی کولای چه د اسلام او مسلمانانو په مقابل کښی ودریږی د الله په فضل. او دا دی د رڼا له بڅرکو څخه یوه بڅرکی، د جهاد په دروازه او د جهاد له میوو څخه یوه میوه. چه د ډیرو مودو څخه مونږ ورته منتظروو او هغه د الله د شریعت اقامت دی په افغانستان کښی، چه په کنړ کښی په لمری ځل وځلیده، پداسی حال کښی چه د افغانستان ۸۰٪ منطقی آزادی شوی دی، جهادی تنظیمونو د کنړونو د اسلامی امارت د مشری لپاره د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة امیر، مولوی صاحب جمیل الرحمان منتخب کړ او بیعت یی ورسره وکړ او ثناء ده هغه الله لره چه د خپلو بندګانو په زړونو کښی یی محبت واچوه او هغوی عمل وکړ د الله جل جلاله د دی حکم سره سم چه فرمائی:

(الذین ان مکناهم فی الارض اقاموا الصلوة واتو الزکاة وامروا بالمعروف ونهوا عن المنکر)

ترجمه: (دا مسلمانان چه مخکښی ذکر شول) هغه کسان دی چه که مونږ دوی ته قدرت ورکړو. په ځمکه کښی نو و دروی (اداء کوی) لمونځونه، او ورکوی زکاة، او امر په نیکیو کوی. او منعه کوی (خلک) له بدیو څخه» پدی اساس د اسلامی امارت مشر مولوی صاحب جمیل الرحمن هم د الله تعالی له حدودو څخه د یوه حد د تطبیق په برخه کښی امضاء وکړه کوم چه د اسلامی امارت د شرعی محکمی له خوا تثبیت شوی، ؤ چه په یوه سړی او یوی ښځی باندی (چه دواړو عمداً یو مؤمن نفس وژلی ؤ) د قصاص حکم

پاتی په (۲۹) مخ -

د کنړ دوروستی پیښې په باب رسیدلی لنډ راپور

د دعوت د مجلی نماینده له «اسعدآباد» څخه خبر راکوی چه په ۱۸ ـ ۵ ـ ۹۱ نیټه چه د ۱۳۷۰ هـ ش کال د ثور د میاشتی له (۲۸) نیټی سره سمون خوری، د «حکمتیار» د گروپ یو شمیر افرادو، د یونس «خالص» د گروپ په دری مرکزونو باندی چه په نوآباد، شیگل او سالار باغ کښی واقع دی، قبضه وکړه. څرنگه چه اسلامی امارت د کنړ د ولایت په حدودو کښی د ټولو د تحفظ یوازینی مسئوله اداره ده، پدی بناء د «خالص» د گروپ قومندان، ډاکټر «سید احمد» اسلامی امارت ته شکایت وکړ چه په نتیجه کښی اسلامی امارت د دغو مراکزو د ارجاع لپاره لازم اقدامات وکړل او نوموړی مراکز یی بیرته داکټر «سید احمد» ته حواله کړل. تردی وروسته د «حکمتیار» د گروپ وسله والو ډلو له اسعدآباد سره نژدی په «چنار ډبه» کښی (چیرته چه د دغه گروپ مشر مولوی «فقیر الله» استوگن ؤ) پاټک واچوه او عمومی سرک ئی د عبور او مرور په مخ بند کړ. د شپی دولس بجی د اسلامی امارت د ساتندویانو یو غیر مسلح گروپ کله چه لدی پاټک څخه د تیریدو په حال کښی ؤ ناڅاپه پری ډزی وشوی او په نتیجه کښی یی محمود، غلام سرور او گل حبیب شهیدان او یو شمیر نور یی زخمیان شول. تردی وروسته اسلامی امارت د شر د مخنیوی لپاره دغه او نور له خطر نه ډک مراکز تر محاصری لاندی ونیول.

په ۱۹ ـ ۵ ـ ۹۱ نیټه چه د ثور د میاشتی له (۲۹) نیټی سره سمون خوری، د اسلامی امارت یو شمیر مجاهدین د «شاه محمود» او «معلم ملنگ» په مشری له خط اول څخه د «نرهنگ» په لور خپلو مراکزو ته د تللو پحال کښی ؤ، چه «نرهنگ» ته نژدی د «حکمتیار» د گروپ د یو شمیر افرادو له خوا پری بی رحمانه برید وشو او په نتیجه کښی یی «معلم ملنگ» او یو شمیر نور مجاهدین ټپیان شول.

اسلامی امارت بیا هم د صبر او استقامت لیار غوره کړه او د «حکمتیار» د گروپ له منطقوی مشرتابه څخه یی د پیښی د مجرمانو او قاتلانو غوښتنه وکړه، خو ځواب منفی او انکار تری وشو، څو ځلی جرگی ورته واستول شوی چه لومړی یی د «مولوی پهلوان» په مشری او نوری یی د عربو د مجاهدینو په مشری وی، خو فایده یی ونکړه او ځواب همااغسی منفی ؤ. بالاخره اسلامی امارت له هغوی څخه، شرعی فیصلی ته د حاضریدو غوښتنه وکړه، بیاهم مثبت ځواب حاصل نه شو. تردی وروسته د اسلامی امارت دعات او علماء د وروړ وژنی او مسلمان کشی د مخنیوی لپاره د «حکمتیار» د گروپ مرکزونو ته

د دعوت په منظور ورغلل او هغوی ته یې د خیر او صلحې لورته بلنه ورکړه، د دغو سرکزونو یو شمیر مجاهدینو د دوی دغه دعوتونه قبول او له اسلامي امارت سره یې د بیعت سلسله پیل کړه. او د اسلامي امارت د امن او صلحې دا وفدونه یې د خير سګالۍ او اسلامي وروركلوی لورته یو مثبت اقدام وګاڼه، ځو سرکرده مسئولینوهم له خپلو کړو ځخه ندامت ځرګند کړاو اسلامي امارت سره یې بیعت وکړ او دغه عمل یې یو شرعي امر وګاڼه، او د اسلامي امارت مخالفت یې یو باغیانه عمل او سرکشي وبلله.

(دیادونې وړدی چه د حزب اسلامي ولایتي شورا د امارت له تأسیس نه وړاندې د دغه اسلامي امارت د قیام او جوړښت لپاره لوظنامې او تعهدات کړي وو چه دستاویزات‌ئې پخوا نشر ته سپارل شوي دي)

کله چه د سرکانو غونډ دغه حالات مشاهده کړل، نو اسعدآباد، توپچي او نور ځایونه یې په مجنونانه ډول په درندو وسلو لکه ون توتو (۲ - ۲ - ۱) بي - ام دوازده (B - M İ2) سکربیست، سکرچهل او نورو باندې وویشتل. دغه جریان ځو ساعته دوام وکړ، پدې وخت کښې د «حکمتیار» د ګروپ د شیوی قومندان «انجینیر غفار» د لغمان د وسله والو دستو په حمایت، د خط اول د مجاهدینو قرارګاه د خپلو درندو وسلو پواسطه ترهدف او حملې لاندې ونیول چه د هغوی دېزو په اثر یو مجاهد د شهادت مقام وموند او اوه تنه نور ټپیان شول.

لدې پیښې نه وروسته د اسلامي امارت مشرتابه تصمیم ونیو او د شر د زیاتیدو د مخنیوی په منظور یې د «سرکانو» مرکز له ځلورو خوا ؤ نه محاصره کړ، محاصره سخته او تنګه شوه او د مرکز افرادو د مقاومت توان له لاسه ورکړ او د شپې په یوو لس بجو یې غونډ تخلیه او په ناوه پاس کښې مورچه نشین شول او لدې مورچو ځخه یې هره خوا د درندو وسلو تر اور لاندې ونیوله.

په ناوه پاس کښې موجود یو شمیر مجرمینو چه مخکښې هم په قتل او غارت متهم وه د «حکمتیار» له ګروپ سره یو ځای شول او په ګډ ډول یې د اسلامي امارت په پاسدارانو ګولۍ واورولې. د اسلامي امارت پاسداران د شپې په یوه بجه د دوی په تعاقب ناوه پاش ته ورسیدل. مګر دوی مقاومت ته دوام ورکړ، ځو په پای کښې د دوی ځخه یوه ډله د پاکستان خاورې ته په داخلیدو مجبور کړای شول خو هلته موجوده بلې ډلې د غرمې تر دوه بجو پورې خپل مقاومت ته دوام ورکړ او بالاخره‌دوی هم د خپلو مورچو پریښودوته مجبور او پاکستان ته واوښتل. د صفائې پدغو ځو ورځنیو عملیاتو کښې د اسلامي امارت پاسدارانو ته کوم زیانونه ندي رسیدلي.

اوس اسلامي امارت په حالاتو مسلط دی، په ټوله منطقه کښې امنیت حاکم او د جهادی پروګرامونو د پرمختګ لپاره تصامیم نیول کیږي. هغه اسلحه چه له دوی ځخه پاتې شوي د اسلامي امارت د یو مسئول په قول: دا د جهاد امانتونه دي او باید په لمړي خط کښې د دشمن په مقابل کښې ترې استفاده وشي.

پته دي پاتې نه وي چه دا واقعه پداسې وخت کښې را پیدا شوه چه اسلامي امارت په ملحد دښمن باندې د لویو عملیاتو

پاتي په (۴۱) مخ کښې

حقانیت مسلک اهل حدیث قسط ۴

مقلد :

چند لحظه قبل مااقوال علماء وفقهاء را در رابطۀ وجوب تقلید روبروی شما پیش کردیم، جناب تان از قبول آن اباء ورزیدید، حالا برعکس، خودت اقوال آنها را در اثبات دعوای عدم وجوب تقلید پیش میکنید؟

غیر مقلد :

ما در واقع فقط کتاب و سنت را دلیل عدم وجوب تقلید می دانیم و در اثبات دعاوی خود بآن استناد و تمسک می جوئیم مگر چونکه تو وامثال تو بیشتر مردمان عصر موجود عادت براین کرده اند که بغیر حوالۀ کتاب و نقل اقوال علماء ایشان به پذیرفتن هیچ سخن حاضرنیستند، باین حساب، ما بخاطر فهماندن شما و مردمان عصر حاضر اقوال ایشان (علماء وفقهاء) را نقل کردیم و به نقل آن آماده شدیم، ورنه ما در ذات خود به آن (نقل اقوال ایشان) هیچگونه ضرورتی محسوس نمیکنیم، تمسک ما به کلام خدا و رسول است. یقین و باور مان برآن (قول خدا و رسول) چنان محکم و ناگسستنی است که اگر بالفرض قول یک مولوی و عالمی هم موافق ما نباشد، بازهم در عقیده‌ما هیچگونه خلل و تزلزل راه نمی یابد، ما فرامین و دستورات خدا و رسول را پشت سرگذاشته، به سخن هیچکسی گوش نمی نهیم و به قبول آن به هیچ وجه حاضر نیستیم.

علاوه برآن غرض از نقل کردن ما اقوال علماء را اینست که بطلان دعوای بی اصل و اساس شما براجماع که بار بار از زبان شما لفظ اجماع بیرون می شود، ظاهر و آشکار شود. وتوسط آراء و اقوال این علماء برجسته و محققین چیره دست و بلند پایه، غلط بودن دعوای شما بروجوب تقلید برهمگان واضح وبرملاگردد. راستی جای تعجب وشگفت است که تقلید نه کردن صحابه و تابعین و تبع تابعین، محدثین و محققین وقبیح و مذموم دانستن ایشان آن (تقلید) را دلیل برعدم وجوب تقلید قرار نگیرد و اتفاق ایشان بریک حقیقت و واقعیت ثابت را اجماع نام نهاده نشود و کسانیکه بعد از قرون ثلاثه بوجود آمدند و از نقطه نظر ورع و تقوی و مدارج علم و تحقیق نسبت به متقدمین به مراتب پست و پائین اندو درعین حال همۀ شان سر یک سخن توافق نظر ندارند، جایز گفتن ایشان تقلید را بر وجوب آن (تقلید) چنان دلیل قاطع و برهان ساطع گردد که منکر آن بدعتی و فاسق و واجب التعزیر قرار گیرد.

«فاعتبروا یا اولی الالباب إن هذا لشئ عجاب»

بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۟ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ ؕ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَاۤ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (یوسف ۱۰۸)

احمد شاه (وحدت)
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

داتیبا زخاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة
مؤسس: الشیخ جمیل الرحمن
خپرونکی اداره: د دعوت او وارشاد ریاست

د توحید او جهاد مجله

دعوت

۱۳ گڼه - د ۱۴۱۱ هق کال د ذی القعدې او ذی الحجې میاشتې

د هیئت تحریر نظارت لاندې

د دې گڼې مطالب

۱:- د اسد آباد ښار د کمونیزم له یوه بانه هیر نه دونکي فاجعه او لیده	۲
۲:- د اسد آباد د غمنا کې پېښې په هکله د کونړونو د اسلامي امارت اعلامیه.	٤
۳:- د دعوت د مجلې د کارکوونکو د تعزیت پیغام	٦
۴:- تعزیتي پیغامونه	۷
۵:- اسد آباد د پاکستان د مطبوعاتو په هنداره کښې	۹
۶:- عدل او انصاف په اسلامي امارت کښې	۱۱
۷:- اسلامي امارت او د شرعي حدود و تطبیق	۱۵
۸:- د کونړ د وروستي پېښې په باب لنډ رپورټ	۱۷
۹:- حقانیت مسلک اهلحدیث	۱۹
۱۰:- د خلیج ربړه د کونړونو د اسلامي امارت د امیر له نظره	۲۳
۱۱:- په وعده وفا کول د رښتینې مسلمان نښه ده	۳۰
۱۲:- د نړۍ مسلمانانو ته د لبنن گراد د جامع مسجد د خطیب پرانیستي لیک.	۳۹
۱۴:- راغلي لیکونه	٤٤

زمونږ نمائندگان

افغانستان: عبدالحمید شورش
سعودي عرب: فیصان الله
اسلام آباد: عفیف احمد
امریکه: عبدالرحمن احمد
پشاور: غني الله مسلم
برطانیه: منور علي
لاهور: حماد شاکر
جرمني: وائي - ایم حمیم
کراچي: چوهدري ظهور احمد
هالینډ: عماد الدین لحربي اسمٰعیل
کوئټه: عرفان مینگل
مظفرآباد: بشیر قریشي

د اشتراک وجه

پاکستان کښې:	په بهرنیو ملکو کښې
میاشتنی گډون: ۱۰ کلداري	میاشتنی گډون: ۲ امریکایي ډالره
کلنی گډون: ۱۰۰ کلداري	کلنی گډون: ۲۰ "

پته:- "دعوت" مجله پوست بکس نمبر ۶۱۴ پیښور - پاکستان

مقلد:

کسانیکه منکرین تقلید اند، ایشان جماعة اندک و گروهی کمی اند و قول شان مرجوح است و کسانیکه آن (تقلید) را واجب و جایز میدانند اکثریت اند و در هر طرفیکه اکثریت باشد، اطلاق سواد اعظم بآن میگردد، دیگر اینکه استناد شما به اقوال چند علماء محدود است و استناد ما (براثبات دعوای خود) برقول هزاران.

غیر مقلد:

این هر دو دعوای تو غلط و باطل است: اول این دعوا که واجب العمل همان قول است که برآن مردم زیاد اتفاق کرده باشند و آن را سواد اعظم دانستن، دوم این تصور که در جانب تائید تقلید اکثریت مردم اند، در مورد باطل و غلط بودن دعوای اول، من چند قول را به خوانندگان و پژوهش گران حقایق ارائه میدارم که بعضی مفسرین در تفسیر آیة «وان تطع اکثر من فی الارض یضلوک» گفته اند.

فی هذا دلالة علی انه لاعبرة فی دین الله ومعرفة الحق بالقلة والکثرة بجواز ان یکون الحق مع الاقل.

«این آیة دلیل است براینکه در دین خدا و شناخت حق و باطل معیار قلت و کثرت نیست، زیرا بعید نیست که حق در جانب گروه کم باشد»

ابن جوزی در تلبیس ابلیس نوشته است که: سفیان رحمه الله به یوسف ابن اسباط گفت:

«اذا بلغک عن احد بالمشرق انه صاحب سنة فابعث الیه بالسلام و اذا بلغک عن آخر بالمغرب انه صاحب سنة فابعث الیه بالسلام فقد قل اهل السنة»

اگر یکی در مشرق و دیگری در مغرب پای بند سنت باشد بایشان سلام بفرست، زیرا تعداد عاملین به سنت بسیار کم و نادر شده است.

امام فخر الدین رازی در تفسیر کبیر می نویسد، سواد اعظم فقط کسیست که تابع کتاب یعنی قرآن کریم و سنت باشد...
وان ماسواها لایلتفت الیهم وان امتلا العالم منهم. ماسوای عاملین برکتاب و سنت در خور ولایق توجه والتفات نیستند اگرچه به بری زمین باشند.

یکی از دانشمندان مفهوم جماعت را این گونه بیان کرده است.

«الجماعة دالة بجامعة اهل الحق وان قلوا» جماعت عبارت از جمع شدن اهل حق بر یک سخن حق را گویند، اگرچه تعداد شان کم باشد. ملا علی قاری در شرح نخبة الفکر در معنای سواد اعظم می نویسد:

«ان فیهم من الصفات الموجبة للقبول ماتقوم مقام العدد الکثیر من غیرهم ولذا سمیت مثل هذاالامام الامة قال الله تعالی. ان ابراهیم کان امة لانه یجتمع فیه من الصفات ما لایوجد متفرقة الا فی جماعة ولذا قال الشاعر:

لیس من الله بمستنکر ان
یجمع العالم فی واحد

در آنها چنان اوصاف حمیده و خجسته است که آن اوصاف جایگزین عدد کثیر میگردد. باین خاطر مانند این امام را یک امت نام گذاشته شده است، خداوند می فرماید: (به راستی ابراهیم (در ذات خود) یک امت بود؛ بخاطریکه او (ابراهیم) جامع اوصاف و کمالاتی بود که آن اوصاف و کمالات بطور متفرق و پراگنده جز در یک جماعت در شخص واحد جمع نبود.

در همین باب شاعری میگوید:

از قدرت خداوند قدیر بعید نیست که همه اوصاف وخصال نیک جهانیان را در یک شخص واحد جمع کند.

وقد قیل فی الحدیث المشهور علیکم بالسواد الاعظم ای الاورع والاسلم.

در حدیث مشهور گفته شده است که: شما در پهلوی سواد اعظم قرار گیرید یعنی جماعتیکه از حیث تقوی و پرهیزگاری بردیگران تفوق و برتری داشته باشد.

پس هرگاه اطلاق امت بریک شخص واحد از کلام خدا ثابت شد بخاطریکه او جامع اوصاف وخصالی بود که آن اوصاف و خصال درگروه ها و جماعات متفرق یافت می شد و قرار دادن خداوند یک شخص را به منزله یک جهان تعجب آور و حیران کن نیست و از سواد اعظم زیاده، پارسا و پرهیزگار مراد گرفته شد. بعد از آرائه این همه دلایل واضح و روشن بازهم کثرت عوام را برای ثبوت مسئله بطور حجت و برهان پیش کردن جزبازی کودکانه و فریب عوامانه چیز دیگری بیش نیست. فاضل روز بهان در کتاب «ابطال الباطل» در جایکه حدیث «لایزال طائفة من امتی منصورین لایضرهم من خذلهم حتی تقوم الساعة» را آورده است بعد از آن می نویسد:

فحاصل الحدیث لایزال طائفة قلیلة من امتی منصورین بالحجة والبرهان.

حاصل و فشردهٔ حدیث اینست که همیشه یک گروه قلیل و کمی از امت من توسط دلیل و برهان پیروز و کامیاب اند، بناء ثابت شد آن گروهیکه در طول تاریخ ظفر و پیروزمندی همیشه قدم بوس آن است، همان گروه کمی از انسانهای است که توسط حجت شرعی خود بردیگران غالب اند و کسی آن را مغلوب کرده نمی تواند و این همان گروهی است که تابع کتاب و سنت است، در نزد آن نه رسم و رواج ارج دارد و نه دلایل پوچ و بیهودهٔ اهل بدعت ارزشی دارد و نه سخنان میان تهی و پرت پلای علماء دنیا طلب تأثیر دارد و نه کثرت اقوام و جمعیت و تبعیت عوام آن را از سیر در مسیر هدف و راه نوردیدن به سر منزل مقصود مانع شده می تواند، در برابر کتاب خدا و حدیث رسول همه گردن های کبر و نخوت خم گردیده و دچار مغلوبیت و شکست میگردند.

پس، از روی انصاف باید نگریست که مصداق آن (حدیث) کیست؟ آیا گروهیکه تقلید میکنند و چشم و گوش بسته دنبال هر صدا و آواز می روند و می دوند و یا گروهیکه از تقلید بیزار و بری اند و در پرتو انوار قرآن و حدیث راه می روند و مسیر می پیمایند. به دلایل جانبین عمیقانه بنگر و به میزان کتاب خدا و حدیث رسول سنجش کن و عینک تعصب را برای چند لحظه از چشمت بدور بیفگن و انصاف کن.

امام بخاری در کتاب «الاعتصام بالسنت» صحیح بخاری آورده است که: «لاتزال طائفة من امتی ظاهرین علی الحق» - ابن حجر در فتح الباری نوشته است که: «هم اصحاب الحدیث» آن گروه اصحاب حدیث است. در تفسیر نیشاپوری نوشته است: «اگر مراد ازین طایفه «اهل حدیث» نباشد پس من نمیدانم که مصداق این حدیث کدام مردم اند.

امام غزالی رحمة الله علیه در «احیاء العلوم» می فرماید:

«ومنها ان یکون شدید التوقی من محدثات الامور و ان اتفق علیه الجمهور فلایغرنه اطباق

الخلق علی ماأحدث بعد الصحابة».

از علائم شاخصهٔ این گروه (ناجیه) یکی اینست که از بدعات به سختی پرهیز میکنند اگرچه به جواز آن (بدعت) جمهور اتفاق کرده باشند، اتفاق مردم بربدعات که بعد از صحابهٔ کرام روی کار شده است آن گروه (فرقهٔ ناجیه) را فریفته نمی سازد.

جان سخن اینکه مغرور شدن به کثرت اقوال یا فریفته شدن به کثرت اشخاص نهایت نادانی و سطحی نگری بوده و خلاف و منافی باحکم شریعت است، ما مسلمانان بحیثیت مسلمان در امور دین فقط این را باید ببینیم که از کتاب و سنت چه ثابت می شود؟ قرآن خدا و سنت رسول را پشت سرگذاشته و دنبال اقوال دیگران را گرفتن، اقوال بنده ها را معیار سنجش قول خدا و رسول قرار دادن و اصل را به فرع پیش کردن از شأن اسلام و مسلمان بعید است.

حقیقت اینست که اگر کدام مشرک یا اهل کتاب این سخن را بشنود و بآن پی ببرد که مسلمانان در دین خود بدون کتاب و سنت، عمل کردن به سخنان مردم را نیز جایز می شمارند، آنوقت است که ایشان این عمل را برای بربادی و نابودی اسلام یک فال نهایت عمده می دانند، خصوصاً اگر آگاهی یابند براینکه آنها (مسلمانان) این امر (عمل کردن به اقوال مردم) را واجب می دانند و مخالف آنرا بدعتی و فاسق و دشمن اسلام می گویند، آنوقت است که از فرط مسرت و خوشی شاید سکته کنند و بخاطر خاتمهٔ اسلام طبل خوشی خواهند نواخت و نای مسرت خواهند سرود. بناء اگر ماخواسته باشیم که حقانیت و اصلیت اسلام عزیز را به جهانیان قرن بیست و یکم و مخصوصاً حریف دیرینهٔ آن (یهودیت و نصرانیت) نشان دهیم این کار فقط از همان راه و مسیر ممکن است که بانی اسلام در پیش گرفت، آری! پیامبر خدا محمد امین صلی الله علیه وسلم توحید کامل و یکتا پرستی را در روی زمین جاری کرد و شرک را باهمهٔ اقسام جلی و خفی اش باطل کرد و شالوده و اساس بت پرستی و رسوم و رواج قومی و ملی را یکباره از هم فروریخت و تحریفات تحریف کنندهٔ گان ادیان سابقه را واجب الترک والانکار اعلام کرد.

پس هر گاه پیروان این مذهب از توحید روگردانیدند و مبتلای شرک فی النبوت شدند و پا به زنجیر رسوم و رواج و تقلید های قومی و ملی خود گردیدند، در عوض عمل به کتاب خدا چشم به فتوای مردمان دوختند و در بدل پیروی حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم دنبال اقوال و احکام علماء رفتند، کاربجای رسید که تا وقتیکه مولوی صاحبان شان اشاره آبرو و تحریک شفتین نکنند، آنها (مسلمانان) نه به کتاب خدا عمل کرده می توانند و نه به حدیث رسول صلی الله علیه وسلم، پس در صورت پیش آمد چنین مصیبت بزرگ و خطر عظیم براسلام اگر آنها (دشمنان اسلام) به هر پیمانه اظهار خوشی و خورسندی کنند، حق بجانب اند و هر گاه ایشان به این سخن آگاهی حاصل کنند که این قول و عمل فقط منحصر در عوام نیست که به اساس مجبوریت به آن قائل و عامل شده باشند، بلکه نامورانِ میدان علم و فرهنگ که به القاب های بزرگ چون علام و فهام و حضرت و کعبه و.... یاد می شوند، عقیده و عمل شان براین

پاتی په (۴۳) مخ کښی

دخلیج ربړه دافغانستان د کونړونو داسلامی امارت دامیر الشیخ جمیل الرحمن له نظره

نحمده، ونستعینه و نستغفره ، و نؤمن به و نتوکل علیه و نعوذ باالله من شرور انفسنا و من سیئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له و من یضلله فلا هادی له و نشهدان لا إله الا الله وحده، لا شریك له و نشهد ان محمداً عبده، و رسوله.

اما بعد:فاعوذ باالله من الشیطن الرجیم ط

بسم الله الرحمن الرحیم ط

قال الله تعالی:«قد خلت من قبلکم سنن فسیروا فی الارض فانظروا کیف کان عاقبة المکذبین»

(سوره آل عمران ۱۳۷)

الله تعالی فرمائی: په تحقیق سره تیر شوی دی، مخکی ستاسو نه ډیر قومونه، وگرځی په مځکه کی، بیا وگورئ، چه څنګه شو انجام د دروغجنو.

قال الله تعالی:«واتقو فتنة لا تصیبن الذین ظلمو منکم خاصة واعلموا ان الله شدید العقاب »

(سورة انفال اية ۲۵)

الله تعالی فرمائی: وویریږئ له هغی فتنی څخه چه نه رسیږی هغه کسانو ته چه ظالمان وو، ستاسی نه، خاص او پوهه شئ، چه الله جل جلاله سخت عذاب والادی.

لهذا د پورتنیو مبارکو آیاتونو د مفاهیمو په نظر کی نیولو سره چه کله دالله رب العزت عذاب راشی، نو هغه عذاب نه بیازمونږ په مظاهرو او جلوسونو دفع کیږی او نه د دنیا د قومونو او دولتونو په قوتونو د هغه عذاب مخه نیول کیږی. په دی رابطه یو څرگند مثال زمونږ په مخکی د عراق له خوا د کویټ د ظالمانه اشغال نتیجه وه.

په دی مسئله کی ټول مسلمانان په دوه موقفونو ودریدل : څه مسلمانان په دی موقف کی ودریدل، چه د عراق مسلمان ملت د صدام په جرم او گناه عذابیږی. هغه معامله چه د متحدینو له خوا د عراق د تجاوز په مقابل کی کیږی، هغه رد کوی او د عراق د ملت حمایت کوی، چه د عراق د ملت حمایت په خپله د صدام حمایت دی، څه مسلمانان په دی موقف کی ودریدل، چه کویټ او سعودی هغه خواوی دی . چه په دوئ باندی دعراق له خوا ظلم او تجاوز شوی دی او دوئ حق لری، چه له خپل ځان څخه دفاع وکړی او د عراق دتجاوز ځواب ورکړی. ددی موقف تائید طبعاً د هغو حکومتونو حمایت دی کوم چه په کویټ او سعودی حکومت کوی. دلته څرگندیږی، چه جنگ د ملتونو تر منځ نه، بلکه د دوه نظامونو تر منځ دی. یو خوا د عراق نظام دی او بله خوا د کویټ او سعودی نظام دی. که مونږ ددی مسئلی په رابطه د الله جل جلاله سنتو او قوانینو ته متوجه شو، نو صدام داسی زندیق انسان دی، لکه څرنگه چه په افغانستان کی ډاکتر نجیب دی، د صدام په خلاف د عراق د

ملت هغه فریضه ده، لکه څرنګه چه د
نجیب په خلاف د افغانستان د ملت
فریضه ده. الله جل جلاله هیڅ مسلمان
او مؤمن ته ددی اجازت نه ورکوی چه
زندیقانه، کافرانه او طاغوتی نظام ته
تسلیم شی.

رب العزت فرمائی: «فلا وربك لایؤمنون حتّی یحکموك فیما شجر بینهم ثم لایجد حرجا فیما قضیت ویسلموا تسلیما»

الله تعالی فرمائی: داسی نده قسم می
دی وی په رب ستا ای پیغمبره، دا
خلك مؤمنان نه شی جوړیدی، تر هغه
چه فیصله کن ونه ګڼی تا په هغه څه
کی چه جګړه ده د دوئ په خپل منځ
کی، بیا به دوئ ونه مومی، په خپلو
نفسونو کی تنګی یا تکلیف په هغه
کی چه تا فیصله کړی وی، دوئ به
ګردن نهاد شی په پوره ګردن نهادی
سره.

په عراق کی(١٨) یا(٢٠) ملیونه
خلك اوسیږی او په دوئ باندی د یو
موټی کمونستانو او زندیقانو حکومت
مسلط دی او دا څو ملیونی ملت دغه
حکومت ته تابع او تسلیم دی. دوئ
ولی دی کافرانه حکومت ته تسلیم دی
او څه شی باعث دی چه دوی ئی دی
حکومت ته تسلیم کړی دی؟ ددی
یوازنی وجه داده، چه د عراق ملت په
الله جل جلاله ایمان نه لری. کلمه
وائی خو په الله جل جلاله او د قیامت
په ورځ ایمان نه لری، که په الله جل
جلاله او د قیامت په ورځ دوئ ایمان
درلودلای، نو بیا دوئ د صدام د نظام
په خلاف جهاد خپله فریضه ګڼله.

دا چه دوئ له مرګ څخه ویریږی او د
نظام په ضد جهاد نه کوی، تر څو
وکولی شی دغه مسلط طاغوتی تظام
نسکور کړی. که دوئ په زړه کی له
دغه نظام څخه راضی وی او که راضی
نه وی، هغه څوك چه په زړه کی
ناراضه وی او د توحید کلمه وائی اونه
ئی په لاس جهاد وکړ، نه ئی په خوله
جهاد وکړ، او په زړه کی هم ناراضه
نه وی، او نظام ته تسلیم وی، نو ددی
ډول خلکو په هکله په یو حدیث
مبارك کی داسی راځی :

«قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیس وراء ذلك خردلة من الایمان».

له داسی خلکو سره داوری ددانی
هومره ایمان هم نشته.

د یوی ذری په اندازه ورسره هم ایمان
نشته. هغه څوك چه د یو كافرانه
نظام لاندی ژوند کوی او ورته تسلیم
وی او د هغه په خلاف نه په خوله او
نه په لاس جهاد وکړی او نه تری
ناراضه دي ، نو په دی خلکو کی یوه
ذره ایمان هم نشته او کوم خلك چه په
زړه کی ناراضه دی او د صدام د نظام
په خلاف جهاد نه کوی او په عمل کی
ورته تسلیم دی، دا خلك ولی
تسلیمیږی؟ دا ځکه چه دوئ د الله جل
جلاله په لاره کی جهاد او شهادت ته
حاضرنه دی. دوئ ته د الله جل جلاله
په لاره کی د شهادت مرګ خوښ نه
دی او تر یو طاغوتی نظام لاندی ژوند
ئی خوښ دی په دی ډول خلکو الله
عذاب راولی، مرګ پری مسلط کوی، دا
د الله تعالی سنت دی، دا د الله
تعالی هغه قاعده او هغه معامله ده چه
له دوئ څخه پخوائی له نورو قومونو

څه مسلمانان په دی موقف کی ودریدل، چه کویټ او سعودی هغه خواوی دی . چه په دوی باندی دعراق له خوا ظلم او تجاوز شوی دی او دوئ حق لری، چه له خپل ځان څخه دفاع وکړی. او د عراق دتجاوز ځواب ورکړی. ددی موقف تائید طبعا د هغو حکومتونو حمایت دی کوم چه په کویټ او سعودی حکومت کوی.

سره هم تیره شوی ده. چه په دی هکله الله جل جلاله فرمائی:

«الم تر الی الذین خرجوامن دیار هم وهم الوف حذر الموت فقال لهم الله موتوا»

(سوره البقره ۲٤۳)

الله جل جلاله وائی هغو قومونو چه جهاد پری فرض دی او دمرگ له ویری مرگ پردوئ مسلط کړ او په داسی شان ئی پری مسلط کړ چه د ذلت او رسوائی او د دنیا او آخرت دواړو تباهی ئی په نصیب شوه الله جل جلاله فرمائی:

«قد خلت من قبلکم سنن فسیروا فی الارض فانظروا فکیف کان عاقبت المکذبین»

څوک ئی ضابط او څوک ئی جنرالان دی، څوک ئی ملك او څوک ئی اتباغ دی د صدام نظام په همدغه ملت جوړ دی او همدغه ملت ئی ملاتړ کوی. که دغه ملت نه وی، دغه طاغوتی نظام هم وجود نه لری او که ملت وغواړی چه نظام ختم کړی کولی ئی شی. دا حقیقت دی چه نظام دختمولو په لاره

«د خلیج په جنگ کی د دری میاشتو په موده کی په لکونو خلك له مینځه ولاړل او مرگ واخیستل. څوك چه د الله جل جلاله په لاره کی ژوندنه ورکوی او ژوندئی د طاغوت او د شیطٰن په لاره کی ورکړ، له مرگ څخه وتښتیدل، او جهاد ئی نه کاوه، الله هم هغه مرگ پر دوئ مسلط کړ او په داسی شان ئی پرې مسلط کړ چه ذلت او رسوائی او د دنیا او آخرت دواړو تباهی ئی په نصیب شوه».

ووتل او جهاد ئی پریښود. نو الله جل جلاله پری مرگ مسلط کړ. هغه داسی مرگ وو چه دوی ئی څوك په کڅونو کی مړکړل، او څوك ئی په خپلو کورونو کی مړه کړل. همداسی مرگ ئی پری مسلط کړ چه اوس ئی تاسو په خپله وینئ چه د فارس د خلیج په جنگ کی د دری میاشتو په موده کی په لکونو خلك له مینځه ولاړل او مرگ واخیستل. څوك چه د الله جل جلاله په لاره کی ژوندنه ورکوی او ژوندئی د طاغوت او د شیطن په لاره کی ورکړ له مرگ څخه وتښتیدل.

او جهاد ئی نه کاوه. الله هم هغه

په تحقیق سره له تاسو څخه مخکی چه له کومو قومونو سره د الله معامله تر سره شوی ده، د څمکی پرمخ وگرځئ، هغوی ته وگورئ چه د دروغجنو عاقبت او انجام څه شی دی؟

الله ورته وائی جهاد وکړئ په جهاد کی یا شهادت دی او یا د عزت ژوند دی، لیکن هغو ونکړ او له مرگه وویریدل. یو موټی کمونست زندیقان په عراقیانو حکومت کوی چه صدام او د هغه ملگری دی او په مقابل کی ئی د عراق (۱۸) ملیو نو خلکو په خپله خوښه او رضا دغه نظام منلی دی. څوك ئی عسکر، څوك ئی مامور،

کی شهادت شته، مرگ شته، ځانی او مالی تاوان شته. دا چه دوئ له مرگه ویریږی، د الله سنت معطل شوی دی، هغه سنت چه یوازی د یوه الله بندگی ته ئی پکی سر ټیټ وی او نور چا ته ئی سر ټیټ نه وی که دوئ د الله جل جلاله د نظام څخه علاوه نورو نظامونوته سر ټیټ کړو، نو په دوئ د دنیا او آخرت ذلت مسلط دی. دوئ ولی غیرالله ته سر ټیټ کړو؟ دا ځکه چه له مرگه ویریدل، نو الله پری مرگ مسلط کړ.

قد خلت من قبلکم سنن یعنی ستاسو څخه مخکی د الله جل جلاله معاملی تیری شوی دی.

د مخکنیو قومونو سره چه کومې معاملې شوې دي.

هغه به له تاسو سره هم کیږي. هلته چه چا د الله جل جلاله د شرعي قوانینو، سنتو او تکویني احکامو تکذیب کړی بیا وګورئ چه د هغو عاقبت څرنګه دی. دا درسته ده چه په هغو هلاك شوو قومونو کې بعضې نیکان خلك به هم وو، لیکن الله فرمائي:

(۷) واتقوا فتنته لاتصیبن الذین ظلمو منکم خاصة...

له هغه عذاب څخه وویریږئ چه یوازې ظالم ته نه رسیږي بلکه د الله جل جلاله عذاب چه په دنیا کې راځي هغه عاموي او په قیامت کې به هر سړی په خپل نیت پورته کیږي.

په یو حدیث شریف کې راځي چه الله پاك یو کلي ته ملایکه راولیږل چه دغه کلی هلاك کړي، په دې کلي کې یو نیك سړی وو. ملائیکو الله ته خواست وکړ چه یا الله جل جلاله په دې کلي کې یو سړی داسې دی چه د عذاب وړ نه دی او دا صالح سړی دی، د نورو سره په عمل کې شریك نه وو. چه سره له دې هم په هغه عذاب راغی وجه دا ده چه داسې خلك به له بدعملو سره په زندګۍ کې هم شریك نه وي، له هغه کلي څخه به وځي، که د هغوی د عمل په اصلاح کې ئې څه له وسې نه کیږي، نو دومره خو کولی شي چه مقاطعه ور سره وکړي او کلی پریږدي، نه څوك کلی پریږدي او د بدمعاشو او بدعملو سره او سیږي او زندګي ئې عملا له هغوی سره شریکه ده، نو دا هغه صورت دی چه الله پاك خپل عذاب عاموي، ولوکه په عمل کې هم له هغوی سره شریك نه وي. همدارنګه کویټ ته متوجه کیږو: په عراق کې خویو کمونستي، دیکتاتوري او فاحش نظام وو، لیکن په کویټ کې یو دیموکراسي نظام ؤ. د صدام نظام په خپل قلمرو او حدود وکې داسلامي دعوت مرکزونه ختم کړي وو، علماء ئې ختم کړي وو، هلته نیکۍ ته دعوت نه وه، معروف معطل وو، منکراتو ته وده ورکول وو. هلته که څوك دوچې له لیارې حج ته تللی وو، نو دا حقیقت به ورته پوره څرګند شوی وي او دا خو به پخواني خبره وي اوس خو به په منکراتو کې ډیر پیشرفت او زیادت را غلی وي. دا بل د کویټ نظام دیموکراسي نظام وو لکه څرنګه چه همدا اوس د افغانستان د جهاد مشران غواړي چه په افغانستان کې انتخابات وکړي او انتخاباتي نظام یا دغربیانو نظام جوړ کړي چه همدا نظام د ټولو فتنو او فسادونو منشاء او منبع ده، هغه څوك چه دلسو روپو په مقابل کې ځان او ایمان خرڅوي، هغه ته دا امتیاز ورکول چه تاته د ووټ حق در کړی شوی دی، ددې ملك سیاسي قدرت تا ته حواله دی او ته حاکم ئې. دا هغه لاره او طریقه ده چه غربیانو او کفره وو د اسلامي نظام په عوض کې خوښه کړې ده او غواړي چه دغه لا دینه نظام په اسلامي ملکونو کښې تطبیق اودهغوی مرام سرته ورسیږي خو د کویت نظام یو غربي مشربه نظام وو، هلته مطلقه آزادي وه لیکن د خیر مبادي او د خیر وجوهات هم پکې موجود وو. هلته متعدد د دعوت مرکزونه موجود وو، ملت ته آزادي وه. له دې وجهې دکویټ عامه خلك هم د افغانستان جهاد ته ډیر راغلي او د دې جهاد په لاره کې ئې ډیرې قرباني ورکړي دي، ځکه چه هغوی ته آزادي وه، ممانعت نه وو. نو د جهاد تر شاه په نفس او مال ودریدلي، هلته ئې ټول خلك د دې جهاد ملاتړ ته دعوت کړي دي، خو دا چه نظام دیموکراتیك نظام وو. هغوی ته هم الله پاك خپله جزا ور کړه او د خپلو کړو وړو په نتیجه ئې پوهه کړل. الله ظالم نه دی، دا څه چه تیریږي دا د الله تعالی د عدل او انصاف تقاضا ده چه الله جل جلاله ئې د دې مخلوق سره کوي. پیغبر صلی الله علیه وسلم د خپلو صحابه ؤ سره په یوه سفر وتلی وو، چا د یوې مرغی بچی په جاله کې ولیدو د جالې څخه ئې را واخیسته او هغې مرغی د سړي په سر چغار شروع کړ، له هغې سره

د خپل بچي په نسبت عاطفه وه، نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته وويل: د دې مرغۍ چه څومره د خپل بچي سره محبت دى، له دې څخه څو چنده زيات د خپل مخلوق سره د الله محبت دى. يو وخت پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته وويل يوه ښځه چه خپل شير خور بچى ته تى وركوى، آيا په دى راضى كيږى چه خپل شير خور بچى اورته وغورځوى؟ صحابه كرامو ځواب وركړ

مخلوق په دى مكلف كړى دى چه د هغه د احكامو تابعدارى وكړى. د الله د احكامو په مقابل كى چه څوك خلاف واقع شى او يا ئى دروغ وگڼى، له هغوى سره به د الله جل جلاله همدغه رنگه معامله وى او د الله له طرفه به د مجازاتو قانون تطبيق كيږى يعنى دا چه په كويټ كى مسلمانان په دوه برخو تقسيم وو او الله د خپل قانون او سنت په برابر

دى چه د عراق له عامه خلكو سره زياتى كيږى، نو بيا هغه خلك چه د عراق غوندى د نجيب تر تسلط لاندى دى او عام خلك دى، نه د حكومت مقابله كوى بلكه د دغه كافرانه نظام په ملاتړ كى ولاړ دى او زمونږ ميزائيل ورځى او سور اور پرى بل دى، نو دا خلك څرنگه دا اور دلته جايز او هلته ناجايز گڼى؟ زه وايم چه دا دهغو مسلمانانو په موقفونو كى تضاد

«د صدام نظام په خپل قلمرو او حدود وكى داسلامى دعوت مركزونه ختم كړى وو، علماء ئى ختم كړى وو، هلته نيكى ته دعوت نه وه، معروف معطل وو، منكراتو ته وده وركول وو. هلته كه څوك دوچى له ليارى حج ته تللى وو، نو دا حقيقت به ورته پوره څرگند شوى وى».

چه هيڅكله نه. نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم ورته و فرمايل: همدغه رنگى د الله رحمت په خپل مخلوق باندى له دى څخه هم زيات دى. دالله رحيم ذات چه دا څه كوى دادهغه دعدل تقاضا ده. په كويټ عراقيان ورننو تل، په كويټ كى آزادى وه، چا فحاشى غوښتله، چا بد معاشى غوښتله، هماغسى ورسره وشول. هلته د الله نظام حاكم نه ؤ، هلته خلك په گډه سره د الله د نظام غوښتونكى نه وو، په هغوى هم تباهى راغله، هلاكت راغى، دا ټول چه څه جريانات دى، دا د الله د عدل تقاضاء ده، الله خپل

لكه څرنگه چه ئى د نورو قومونو سره معامله كړى وه، هماغسى ئى له دوى سره هم وكړه. دا چه اوس مونږ مسلمانان د دى مسئلى په رابطه په دوه برخو ويشل شوى يو او يوه ډله وائى چه د عراق له خلكو سره زياتى كيږى، نو مونږ ورته وايو چه مونږ د كابل په ښار ولى بزى كوو؟ هلته هم داسى خلك شته چه كلمه وائى او د عراقيانو غوندى په كابل كى پراته دى، مونږ د جلال آباد په ښار ولى بزى كوو؟ هلته خو هم ځينى داسى خلك شته چه كلمه وائى او لمونځونه كوى، هغه خلك چه په دى موقف ولاړ

دى چه دافغانستان جهاد په شك او شبهه كى غورځوى. حال دا چه د افغانستان جهاد د ټولى دنيا د علماء كرامو په فتوى تائيد شوى دى او د ټولو مسلمانو ملتونو له خوا ئى ملاتړ شوى دى. ليكن هغو ملتونو چه د عراق او يا د كابل په څير پرى كافرانه او طاغوتى نظامونه مسلط دى د دى جهاد د ملاتړ پر ځاى ئى د هغه د مخالفت لاره ونيوله.

په دى جهاد كى كه كمونستان د مسلمانانو څخه ډال جوړكړى او د خپل نجات وسيله ئى وگرځوى، نو د دى نظام بقاء د ټول ملت تباهى ده. د

دی نظام د سقوط په غرض هغه خلك چه ځانو نه مسلمانان بولی او د دی نظام په لمن کی پراته دی، هم له منځه ځی. د دنیا په ژوند ور سره د الله معامله همدا ده او په آخرت کی

متوجه کول غواړم: چه مونږ په دی هم مغرور یو چه اوس مونږ دلته دی آزادی منطقی ته راغلی یو او اوس زمونږ دور راغی، څه چه کوو هغه به کوو . الله پاك په کوچنی او لوی

سرداری ورته حواله او وسپارل شوه او ددنیا د رهبری ذمه واری ئی په غاړه واچول شوه. دا چه تاسو ځانونه مسلمانان بولئ او دا وائی چه لااله الاالله محمد رسول الله نو ستاسو د هر

> «په عراق کی(۱۸) یا(۲۰) ملیونه خلك اوسیږی او په دوئ باندی د یو موټی کمونستانو او زندیقانو حکومت مسلط دی او دا څو ملیونی ملت دغه حکومت ته تابع او تسلیم دی ؟ دوئ ولی دي کافرانه حکومت ته تسلیم دي او څه شی باعث دی چه دوئ ئی دې حکومت ته تسلیم کړی دی ؟»

به په خپل نیت پورته کیږی. په دنیا کی چه کوم مجازات نظام ته ورکول کیږی د دغه نظام په لمن کی خلك هم په دی مجازاتو کی شریك دی او که چاځان ته د هجرت لاره ونیو له او نجات ئی حاصل کړ، په خپله به په

عمل دواړو باندی مونږ امتحانوی. تا دوکاندار سره، له دی مامور سره، له دی رئیس سره، له دی ظابط سره او له دی پولیس سره، تا علاقه داراو تاولسوال سره هم حساب کوی. که مونږ دالله دین ته پوره تسلیم شو او

یوه په قربانۍاو د هغه په سیادت به دلته اسلام حاکم کیږی.

او که مو د شرعی احکامو مخالفت وکړ، نو بیا هم الله پاك هماغه ذات دی، دهغه دفیصلی مخه څوك نشی نیولی.

> "هغه څوك چه د لسو روپو په مقابل کی ځان او ایمان خرڅوی، هغه ته دا امتیاز ورکول چه تاته د ووټ حق در کړی شوی دی، د دې ملك سیاسی قدرت تا ته حواله دی او ته حاکم ئی ، دا هغه لاره او طریقه ده چه غربیانو او کفره وو د اسلامی نظام په عوض کی خوښه کړی ده او غواړی چه دغه لا دینه نظام په اسلامی ملکونو کښی تطبیق شی».

امن کی پاتی شی.

طاغوتی نظام او د نظام په لمن کی پرتو خلکو ته جزا ورکول شرعا جایزدی. بلکه دا د مجاهدینو فرض دی چه [illegible] ټول خلکو ته عبرتنا که جزا ورکړی.

په اخرکی تاسو دی حقیقت ته هم

هغه په خپل ځان حاکم کړئ دلته به بیا هدایت وی، دلته به بیا امن وی، دلته به بیا د الله د مجازاتو هغه قانون له مونږه سره چلیږی چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له صحابوو سره ئی چلولی دی.

چه د ټولی دنیا د هدایت وسیله وگرځیدل او د ټولی دنیا سیادت او

مخکی خوئی دا هریوه ملا صاحب حاجی صاحت پاچاصاحب او پیر صاحب ته وروښودله چه د هغوی څیری د دین وې او دننه ړړئی ددنیا وو او د خپل بچی لپاره به ئی رشوت ورکولو څو د امریکا او روس چانس واخلی . ستاسو په نزد سعادت دا

ووچه بچی مو په خارجي چانس کی ومنل شی.

او لويه بدبختي به مود اګنهله چه له چانس څخه به مو بچی پاتی شول مغوی الله ملاك کړل او ته د مغو په سر الله وشرمولی. اوس هم ته رسوا او شرمنده، نيم دلته اونيم هلته ، د دشمن په غيرګی پروت ئی ، دا مجاهدين دي پيژنی چه ودی ګسوری درته ويلی شی، چه حاجی صاحب، ملاصاحب او پيرصاحب او مشره!

ليکن ستا شخصيت د مجاهد په زړه کی هيڅ قيمت نه لری، الله په تا د مجازاتو قانون مخکی وچلولو اوس الله مونږ ته ګوری چه که مونږ توبه وباسو او په صداقت الله تعالی ته رجوع وکړو، الله جل جلاله وپيژنو او خپل سعادت د مغه د قانون په تطبيق کی وګڼو، په قيامت زمونږ ايمان مضبوط وی. په جنت او دوزخ زمونږ عقيده مضبوطه وی، نو بيا به الله جل جلاله مونږ ته مغه څه په نصيب

کړی، لکه څنګه ئی چه مخکنيو صالحو قومونو ته په نصيب کړی وو، مونږ د الله جل جلاله مخلوق يو او د الله جل جلاله په سنتو کی تغير او تبديل نشته، هماغه قوانين چه په مغوی ئی جاری کړی وو، په مونږ به ئی هم جاری کوی

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمين.

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

اِسلامی امارت او د شرعی حدودو.....

د/الحاج مايل

تطبيق او اجرا شو. او د نورو کسانو تحقيق هم روان دی کومو چه په يو ناروا قتل کښی اشتراك درلودلی دی. همدارنګه په اسلامی امارت کښی چه د شرعی محاکمو په عنوان کومی کميتی، تاسيس شوی د مغوی د نيک تبليغ د ښه تأثير په نتيجه کښی د اسد آباد د بازار دوکانداران په رضاکارانه ډول دی ته حاضر شول چه ټول نشه ئی شيزونه لکه نسوار، سګرټ، چرس او نور د اسدآباد د بازار په چوك کښی را ټول او اور ورته واچوی. اسلامی امارت د

دوکارندارانو د دغه نيك عمل مننه وکړه او د دوئ د دغو اموالو مصارف ئی ورکړل.

د حدودو د اجراء په باره کښی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائی:

(حد يعمل فی الارض خير لاهل الارض من ان يمطروا اربعين صباحا) د الله د حدودو څخه يو حد تطبيق د ځمکی د اوسيدونکو لپاره ددی څخه بهتر دی چه په مغوی څلويښت ورځی د سبا په وخت کښی باران وشی.

وائی چه «د باران ابتداء له يوه څاڅکی څخه کيږی» نو

همدارنګه الله جل جلاله دی د کنړ إسلامی إمارت په ټول افغانستان کښی د إسلامی حکومت ابتداء وګرځوی او مولوی صاحب دی الله د (ممن اسس بنيانه علی تقوی من الله) له جملی څخه وګرځوی. وصلی الله تعالی علی عبده ورسوله محمد واله واصحابه اجمعين.

نوټ: اسلامی امارت غواړی چه مسلمان نسل د نشه ئی شيزونو په لعنت ګرفتار نه شی، بلکه مسلمان د اسلام د تعليماتو په رڼاکښی د يو مجاهد په حيث تولنی ته وراندی شی.

د اسعد آباد ښار د کمونیزم یوه بله نه هیریدونکې فاجعه ولیده

د روان کال د حمل د میاشتی یو دیرشمه نیټه او د شنبی ورځ وه، د افغانستان د کنړونو د اسلامی امارت د تاسیس سره په پیوستون د سپرلی موسم د نورو کلونو به نسبت یوه زړه راښکونکی او د ټول افغانستان دآزادی په امید یوه خوشحالونکی فضا جوړه کړی وه، د کنړونو د اوبو څخه د ډکو سیندونو غرهار، دغرو رغونو شنیلیو، د اوبو ابشارونو او دلمر زرینو وړانګو او په ټولو جهادی کارو باری ځایونو کی د حق د لاری د مجاهدینو مصروفیت د اسلامی جهاد د راپاریدلو ولولو نمایندګی کوله، د هر چا په زړه او دماغو کی دی خبری ځای نیولی وو چه دروان کال په جریان کی به د افغانستان خاوره د اسلامی جهاد په برکت د تل لپاره د کمونیستی تالی ځټو له منګولو څخه آزاده شی او د اسلامی حکومت په قیام سره به د افغانستان د دردیدلی ملت دردونه مداوا او معالجه شی.

د اسدآباد ښارچه د اسلامی امارت او د اسلامی جهاد د اتلانو دجهادی مصروفیاتو مرکزی ښاروو، په دی ورځ دنورو ورځو په نسبت زیات زړه راښکونکی معلومیده، د کوچنی بختور اختر ورځی تیری شوی وی. لیکن د دی ښار جهادی سینګار او رونق د همیشه لپاره د مجاهدینو په زړونو کی دا هیله را پیدا کوله چه د اطرافو او اکنافو څخه دې ښار ته راشی او د حق د لاری دزیاتو مجاهدینو په لیدلو سره خپله تنده ماته کړی، په دی ورځ هم لکه دنورو ورځو په څیر د اسدآباد ښار د جهاد د اتلانو په ګڼه ګونه ډیر په زړه پوری معلومیده. د دی ښار په مینځ کی واقع د جهاد یادګاری چوك، دکانونه، او هوټلونه له مجاهدینو څخه ډك ځرګندیدل، د مازدیګر شپږ بجی وی چه د نجیب د دهری او تالی ځټی حکومت له خوا دسکړ دتوغندو په حملو سره دی ښار یوه تاریخی او نه هیریدونکی کمونستی فاجعه ولیده. ددی قبیحانه او بزد لانه عمل په تنیجه کی له(۵۰۰) تنو څخه زیات مجاهدین شهیدان او له(۷۰۰) تنو څخه زیات کسان زخمیان او د اسدآباد دښار(۱٤۰) دکانونه د خپلو سامانونو او مالونو سره په اور کی وسوزیدل او وران شول او زیات ځانی او مالی تاوان ئی را مینځ ته کړ. د کابل د ګوډاګی او دهری حکومت په دی بزدلانه او بی شرمانه عمل د ټولی نړی بشر دوستو ملتونو لعنت ووایه او دا بزدلانه عمل ئی د کابل د دهری حکومت د شکست او نابودی ځرګنده نښه وګڼله د دی عمل په نتیجه کی دمجاهدینو په سینو کی د انتقام اور د پخوا څخه لا زیات تازه او بل شوی دی او لیری نه ده چه د الله جل جلاله په نصرت او تائید به د دی ډول بزدلانه او ناروا اعمالو مرتکبین چه نجیب او د خلق او پرچم ډلی دی، دمجاهدینو په لاس د خپلو

په وعده وفا کولو د ربنتینی مسلمان نښه ده!

شهیدالله

الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی. اما بعد:

فاعوذبالله من الشیطن الرجیم.

بسم الله الرحمن الرحیم.

قال الله تعالی: ثم لتسئلن یومئذ عن النعیم. صدق الله العظیم.

زما د عقیدی او د اسلامی جهاد د سنگر ملگرو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسی په حضور کښی یو څو داسی نقطی عرض کول غواړم چه مونږ او تاسو باید پوره غور او سوچ پری وکړو او د خپل سوچ، تحلیل، او بصیرت په اساس باید ورته په خپل ژوند کښی عملی جامه ور واغوندو.

د اسلامی جهاد د شروع څخه مخکښی او وروسته چه زمونږ قهرمان ملت ته کوم د رانده تکلیفونه او کړاونه ورپیښ شوی دی، دا له هیچا څخه پټ نه دی.

او زمونږ له فرد فرد مجاهد سره د دی سوال ځواب شته، چه دا جهاد د کوم مقصد لپاره شروع شوی او د پیل کیدو انگیزه یی څه شی وه؟ او هر یوه به ددی سوالونو په ځواب کښی له اوله ژور او عمیق سوچ کړی وی.

دافغانستان ټول خلک په عمومی ډول مسکین او فقیر خلک دی. په اقتصادی لحاظ وروسته پاتی خلک دی او د یو داسی مادی ملحد قوت په مقابل کښی یی د جهاد او مبارزی لاره ونیوله چه د ټولی دنیا د تسخیرولو پروگرام یی درلوده. او په دی غرض یی خپل ټول وسایل په کار اچولی وو. چه د دغه استعماری فکر او پروگرام د سلسلی یوه کړی دا وه چه د هند تودو اوبو ته د ځان رسولو په امید یی لمړی په افغانستان باندی دخپل استبدادی نظام د مسلط کولو اراده وکړه. او د خپلو گوډاگیانو په واسطه یی په دی خاوره کښی د (۱۳۵۷) هـ شی کال د ثور په اومه نیټه په څرگنده توگه د خپل اشتراکی او دهری نظام پل اینبودلو ته زمینه مساعده کړه.

دافغانستان مجاهد ملت او د اسلامی جهاد د دعوتگرانو هغه وسایل چه په مادی لحاظ د دغه لوی مادی او کفری طاقت مقابله پری وکړی شی، د دنیا ټولو خلکو ته معلوم وو. لیکن یوازی او یوازی د ایمان په وسله سمبال د افغانستان مجاهد ملت د دی طاغوت مقابلی او نسکورولو ته د جهاد ملاوتړ له. او په دی یی عقیده درلوده چه د الله په لاره کښی د جهاد په برکت به مونږ فتح مومو او د الله په نصرت او

تائید په مونږ سرلوړی او سربلند کیږو.

هغه وو چه اسلامی جهاد د روسی طاغوت په مقابل کښی ددی ملت له خوا په ډیرو ابتدائی وسایلو او امکاناتو سره پیل شو. چه ددی تاریخی عمل د دوام او قوت اخیستلو په جریان کښی دی ملت زیات مشکلات هضم کړل. هجرت ته مجبور شول او د جهاد په خونړو سنگرونو کښی یی عمر په برخه شو. د ایمان په قوت به په ژوند کښی سرراپورته نه کیږی. د روس د داخلی جمهوریتونو پاڅونونه او د بالتیک د هیوادونو استقلال طلبی او د شرقی اروپا د هیوادونو د سیاسی اوضاع تغیرات او تبدیلات ددی خبری څرگند شواهد او نتایج دی.

په اسلامی جهاد کښی د افغانستان د مجاهد ملت د هری طبقی خلکو بیله کوم قومی، لسانی، نژادی او منطقوی توپیرنه پراخه برخه واخیستله او حتی چه د هر فامیل خلک په دی تاریخی اختلافات د مسلمان ملت هیلو ته د ننغلی جامی د اغوستلو د سرغنت په لاره کښی موانع را پیدا کړل. د جهاد جریان اوس هم دوام لری او ددی مشکلاتو په اساس اوس هم یوڅو محدود نقاط د دشمن په لاس کښی شته، زیاتی ولسوالی، منطقی او ولایات په مستقله توگه آزاد شوی دی.

زمونږ سره په دی جهاد کښی تولی هغه کونډی، یتیمان، معیوبین اوبی کوره شوی خلک

هغه هیله او آرزو چه د اسلامی جهاد په نتیجه کښی په ټول افغانستان او بالآخره په ټوله نړی کښی د اسلامی حکومت قیام دی، باید له دی ولایت څخه ورته د عمل د جامی د وراغوستلو هڅه وشی، څو چه هغه زمونږ د ملت د آینده جریاناتو لپاره تهداب گذاری شی او په ټولو آزادو منطقو کښی اسلامی قوانین نافذ او ملت په خپله سالمه اسلامی آینده مطمئن او ددشمن د بقایا ؤ دله منځه وړلو په جهت کښی له پخوا څخه لازیات د جهاد سنگرونه گرم وساتی او د خلکو آبرو او عزت په امن کښی پاتی شی.

سمبال مجاهد ملت بالاخره په دی موفق شو چه د روس د هری او طاغوتی طاقت ملاماتی، خجل او رسوا د افغانستان له قهرمان روزونکی خاوری څخه وباسی او په ملی او بین المللی سطحه یی د کمونیزم طلسم او جادوډړی وړی کړه. او یو داسی رسوا کونکی شکست یی ورکړ، چه بیا جریان کښی د قربانی میدان ته راووتل.

خومتأسفانه چه دا اسلامی جهاد د کوم مقصد او هدف لپاره شروع شوی وو، په هغه سرعت سره څرنگه چه د یو مسلمان ملت د ایمان تقاضا ده په خپله نتیجه مرتب نه شو. ځکه چه د متعددو گوندونو موجودیت او د مجاهدینو ترمینځ ذات البینی ملگری او سهیم دی چه د هغوی د دردونو او کړاوونو په نتیجه کښی اسلامی جهاد د بری لاره ونیوله.

زمونږ سره په دی جهاد کښی ټول مسلم امت په خپل مادی او معنوی ملاتړ ودرید. او زمونږ د جهاد په تائید او ملاتړ کښی یی زیاتی ستونزی او تکلیفونه قبول کړل.

ددئ تولو امیدواری دا وه چه په افغانستان کښی به اسلامی حکومت قیام مومی او دا به د ټول عالم اسلام لپاره د افتخار او اعتماد سنگروی او د هغوی د اطمینان وړ اسلامی نظام به په دی خاوره حکومت کوی، عرب او عجم ټول په دی انتظار دی چه د دوی سمبال ملت د دوی د دعوت په سئنه د جهاد په لاره کښی ډیری قربانی ورکړی او په دی امید چه د خپلو قربانیو په نتیجه کښی به د دوی د خوښی اسلامی نظام قایمیږی. په ټول افغانستان د اسلامی نظام د قیام په رابطه خو تاسو ټول ورونه په دی کښی زمونږه ذمه واری او مسئولیت دی چه د اسلامی حکومت د قیام فریضه ادا کړو. البته په دی ټول ورونه ښه پوهیږی چه ښائی د کنړونو د آزادی علت به داوی چه د دی ولایت اوسیدونکی خلک مسکین او غریب خلک دی او له پخوا څخه

دا چه د ټولو جهادی تنظیمونو نماینده گانو ددی تاریخی ضرورت د احساس له مخی د خپلی اسلامی فریضی د سرته رسولو په امید د کنړونو په ولایت کښی د یوی واحدی اسلامی اداری د قیام لپاره په همدی جامع مسجد کښی تعهدات وکړل او ددی درونی مسئولیت په سرته رسولو کښی ډیرو ورونو مشکلات وزغمل، الله دی اجر ورکړی چه ددی هلو ځلو په نتیجه کښی د افغانستان د کنړونو اسلامی امارت قیام و مونده او د مجاهدینو د امیدواری مطابق نتیجه ترلاسه شوه.

افغانستان د مجاهد ملت په لاسونو به اسلامی حکومت قیام مومی او د نړی د ټولو مستضعفینو لپاره به د ملاتړ او اطمینان مرکزوی.

خو متاسفانه هغه مشکلات چه په دی لاره کښی متوجه دی په دی لنډ وخت کښی یی واضح کول امکان نه لری، بناءً اصل مطلب ته راځم.

په دی مسجد کښی د جهاد هغه دعوتگران ورونه او مشران اوسیږهم موجود دی چه د دوی د دعوت او هلو ځلو په نتیجه کښی، دی مخلص او په ایمان پوهیږی چه قیادتونه د جهادی تنظیمونو د مشرانو په لاس کښی دی هغوی هم زمونږ مشران ورونه دی خپل کوشش به کوی او تدابیر به سنجوی. هغوی جهادی شخصیتونه دی په خپل ملاتړ به هغوی مطمئن ساتو او هغوی به هم ددی مجاهد ملت د هیلو او ارادو لاره نیسی چه په خپل ځای د احترام او تائید وړدی.

لیکن دا چه فعلا مونږ او تاسو د کنړونو په آزاده او فتح شوی منطقه کښی الله (جل جلاله) د اسلامی نظام په قیام مکلف کړی یو او په دی محوطه د توحید او سنت د عقیدی تعلیم او تربیت په دی خلکو کښی زیات دی. هلته د هجرت په کمپونو کښی هم ددی ولایت د اوسیدونکو خلکو د توحید او سنت تعلیم او تربیت له هیچا څخه پټ نه دی. بلکه په دی رابطه دوی زیات امتیاز لری. غرور او تکبر په کښی نه شته، او د اسلامی جهاد د توحید پرتمین بیرغ هم په لمړی وار ددی ولایت په خاوره کښی هسک شوی دی او ددی ولایت مجاهدینو په نه ستړی کیدونکی او دوامداره مقاومت د خپل اسلامی جهاد بنې ته په خپلو

وینو اوبه ورکړی دی.

هغه هیله او آرزو چه د اسلامی جهاد په نتیجه کښی په ټول افغانستان او باالآخره په ټوله نړۍ کښی د اسلامی حکومت قیام دی، باید له دی ولایت څخه ورته د عمل د جامی د وراغوستلو هڅه وشی، څو چه هغه زمونږ د ملت د آینده جریاناتو لپاره تهداب گذاری شی او په ټولو آزادو مناطقو کښی اسلامی قوانین نافذ او منت په خپله سالمه اسلامی آینده مطمئن او ددشمن د بقایاؤ د له منځه وړلو په جهت کښی له پخوا څخه لازیات د جهاد سنگرونه گرم وساتی او د خلکو آبرو او عزت په امن کښی پاتی شی.

دا چه د ټولو جهادی تنظیمونو نماینده گانو ددی تاریخی ضرورت د احساس له مخی د خپلی اسلامی فریضی د سرته رسولو په امید د کنړونو په ولایت کښی د یوی واحدی اسلامی اداری د قیام لپاره په همدی جامع مسجد کښی تعهدات وکړل او ددی دروند مسئولیت په سرته رسولو کښی ډیرو ورونو مشکلات وزغمل، الله دی اجر ورکړی چه ددی هلو ځلو په نتیجه کښی د افغانستان د کنړونو اسلامی امارت قیام و مونده او د مجاهدینو د امیدواری مطابق نتیجه ترلاسه شوه لیکن دا چه ځینی محدودو ورونو د خپلو تعهداتو په وړاندی د مخالفت لاره ونیوله او د وفاداری پرځای یی جفا غوره کړه، د ټولو خلکو لپاره د تشویش او خفگان باعث شو. دا چه دغه ورونو لمړی تعهدات وکړل او د اسلامی امارت په قیام یی توافق وکړ چه تحریری اسناد یی د مجاهدینو له نظر څخه پټ نه دی او وخت په وخت مجاهدینو ته څرگند، او ابلاغ شوی دی. او سره له دی هم خپل ذاتی مفادات او مصلحتونه داجتماع د مصلحتونو څخه پورته او غوره گنی، نو په څرگنده توگه ویلی شو چه دوی هیڅکله د اجتماع خیر خواهان نشی گرځیدلی. البته دلته ویلی شو چه دوه علتونه په دغه ډول جفاکارو ورونو باعث شوی دی چه د انحراف لاره یی اختیار کړی ده.

اول دا چه دوی سیاسی تنازل ته خوشبین نه دی. دوی د خپلو منافعو او امتیازاتو څخه نه تیریږی او د سیاسی تنازل قربانی ته حاضر نه دی.

دوهم دا چه هغه مادی گټی او منفعتونه چه په تنظیمی توگه ورته په لاس ورځی شاید چه پله

لیکن دا چه ځینی محدودو ورونو د خپلو تعهداتو په وړاندی د مخالفت لاره ونیوله او د وفاداری پرځای یی جفا غوره کړه، د ټولو خلکو لپاره د تشویش او خفگان باعث شو. دا چه دغه ورونو لمړی تعهدات وکړل او د اسلامی امارت په قیام یی توافق وکړ چه تحریری اسناد یی د مجاهدینو له نظر څخه پټ نه دی او وخت په وخت مجاهدینو ته څرگند، او ابلاغ شوی دی. او سره له دی هم خپل ذاتی مفادات او مصلحتونه داجتماع د مصلحتونو څخه پورته او غوره گنی، نو په څرگنده توگه ویلی شو چه دوی هیڅکله د اجتماع خیر خواهان نشی گرځیدلی. البته دلته ویلی شو چه دوه علتونه په دغه ډول جفاکارو ورونو باعث شوی دی چه د انحراف لاره یی اختیار کړی ده.

دی واحده اسلامی اداره کښی ورته میسر نه شی او د دوی شخصی گټی له زیان سره مخیږی.

او په دی باور لرم چه دوی ته له بهر څخه داسی قرمانده نه ورکول کیږی چه تاسو اتفاق مه کوی او داجتماعی او اسلامی مصالحو خیال مه ساتی بلکه زه په دی یقین لرم چه جهادی رهبران به هڅکله دوی ته دا وینه وایی، چه تاسو په کنړ کښی یوه واحده اسلامی اداره مه جوړوئ،

د دغو تنظیمونو نماینده گان د خپلو تنظیمونو د مشی او نصب العین تطبیق ته آماده نه دی، دا د دوی خپله گناه ده، دا د دوی په خپله له قوم سره غداری ده، له جهاد سره غداری ده او ددی ولایت له خلکو سره ظلم دی. او نه دوئ دا ویلی شی چه په مونږ د خپلو مشرانو له خوا فشار دی. که د همدی کنړ په دغو مشرانو پسی د شهیدانو بچیان راغونډ

په دی جهاد کښی قربانی ورکړی دی، هغوی دوی ته انتظار لری چه کومه ساحه د جهاد د بری په نتیجه کښی فتح او د دوی په اختیار کښی یی الله (جل جلاله) ورکوی غواړی چه دلته به اسلامی نظام وی، دلته به امن وی، دلته به اخوت وی دلته به د مظلوم سره همکاری وی، دلته به د ظلم مخ نیوی وی، دلته به د معروفو وده او د منکراتو مخ نیوی وی.

متأسفانه ددی ولایت د تنظیمونو هغه مشران چه د دوئ د تعهداتو په نتیجه کښی اسلامی امارت قایم شوی دی او خپلو تعهداتو ته وفادار نه دی. ددی پرځای چه د اسلامی امارت ملاتړ وکړی او د اسلامی امارت د استحکام په لاره کښی مصروف شی. بالمقابل د اسلامی امارت په خلاف سؤ تبلیغات کوی.

وحدت مه کوئ، دا ځکه چه د هغوی مشن او د هغوی نصب العین اسلامی اقداروته په درنه سترگه کتل دی. او وظیفه لری چه ټول مجاهد ملت یو موټی او یو صف کړی. دا د هغوی اسلامی اصول دی او د همدی اصولو په بناء دغه تنظیمونه جوړ شوی دی، د هغوی دعوت دا دی چه وائی مونږ اسلام حاکمول غواړو، اسلامی جامعه جوړول غواړو، اسلامی وحدت تحکیمول غواړو.

خو دا چه په دی ولایت کښی کړو او ورته ووائی چه زمونږ پلرونه ستاسو په قومانده د څه لپاره شهیدان شوی؟ او د کوم نظام قیام ئی هیله وه؟ نو ته به ځکه هغه نظام راولی؟ یقین لرم چه له دوی سره ددی سوالونو ځوابونه نشته. نو بیا مونږ او تاسو ټولو ته قضاوت پکار دی او هغه دا چه بیا په داسی مشرانو پسی ولی اقتداء کوو؟ او ولی ورپسی روانیږو؟

زه وایم هغو کونډو، یتیمانو، مستضعفینو او بیچاره خلکو چه

متأسفانه ددی ولایت د تنظیمونو هغه مشران چه د دوئ د تعهداتو په نتیجه کښی اسلامی امارت قایم شوی دی او خپلو تعهداتو ته وفادار نه دی. ددی پرځای چه د اسلامی امارت ملاتړ وکړی او د اسلامی امارت د استحکام په لاره کښی مصروف شی. بالمقابل د اسلامی امارت په خلاف سؤ تبلیغات کوی.

تاسو ټول وینئ چه د اسلامی امارت د قیام په برکت د الله (جل جلاله) حدود قایمیږی. خو

ورځې د مخه مو ولیدل چه درې تنه مجرمان چه غیر حق یې درې تنه مسلمانان شهیدان کړي وو، ستاسې د ټولو په محضر کښې د مقتولینو د وارثانو له خوا دوه تنه قصاص او یو تن معاف شو. په داسې حال کښې چه د هغو بیچاره وارثان په کلونو کلونو د خپل انتقام اخیستلو جوګه نه وو، او انشاءالله چه د الله په نصرت به په آینده کښې هم د شهیدانو د آرمانونو غوټې د اسلامي شریعت په تطبیق سره لاپسې وغوړیږي. او د اسلام د تطبیق په نتیجه کښې به پوره امن او خوشحالي زمونږ په برخه شي.

نو هغه مشران چه ځانونه د تنظیمونو نمایندهٔ ګان ګڼي، آیا هغوی ته اسلام ددې اجازه ورکوي تنظیم یم، نو د دې اسلامي امارت حکم نه منم، له دې څخه څرګندیږي چه دوی د الله جل جلاله حکم نه مني، دوی اسلامي شریعت نه مني، د دوی سیالي باید په دې کښې وي چه لاژیات د منکراتو مخ نیوی وکړي او معروفو ته وده ورکړي. نه دا چه اسلامي امارت د منکراتو مخ نیوی کوي او دوی ورته وده ورکوي.

نو هغه مشران چه ځانونه د تنظیمونو نمایندهٔ ګان ګڼي، یا هغوی ته اسلام ددې اجازه ورکوي چه د منکراتو د مخ نیوی پر ځای دې منکراتو ته وده ورکړي او د اسلامي تنظیمونو د بدنامي اسباب دې برابر وي؟ په داسې حال کښې چه په کینې او حسد سره (چه د ایمان او نیکو اعمالو د زوال اسباب دي) د منکراتو د مخ نیوی په لار کښې خنډونه پیدا کوي. په دې بهانه چهٔ زه حزبي یم، یا جمعیتي یم او یا د فلاني تنظیم یم، نو د دې اسلامي امارت حکم نه منم، له دې څخه څرګندیږي چه دوی د الله جل جلاله حکم نه مني، دوی اسلامي شریعت نه مني، د دوی سیالي باید په دې کښې وي چه لاژیات د منکراتو مخ نیوی وکړي او معروفو ته وده ورکړي. نه دا چه اسلامي امارت د منکراتو مخ نیوی کوي او دوی ورته وده ورکوي.

خو لله الحمد چه اسلامي امارت د هغوی د شرعي حقوقو د حفاظت په خاطر تر شرعي حدودو لاندې اقدامات وکړل او دا زمونږ د ټولو لپاره د افتخار ځای دی او له دې څخه د مخه هم تاسو ټولو ته پته ده چه لاره وهونکي او د اسلامي شریعت د حدودو څخه تجاوز کونکي خلک د خپلو ناروا اعمالو په سزا ورسیدل چه د منکراتو د مخ نیوی پر ځای دې منکراتو ته وده ورکړي او د اسلامي تنظیمونو د بدنامي اسباب دې برابر وي؟ په داسې حال کښې چه په کینې او حسد سره (چه د ایمان او نیکو اعمالو د زوال اسباب دي) د منکراتو د مخ نیوی په لار کښې خنډونه پیدا کوي. په دې بهانه چهٔ زه حزبي یم، یا جمعیتي یم او یا د فلاني

هیڅکله زما دا باور نه راځي چه خدای ناخواسته د پیښور مشرانو به دوی ته ددې ډول اعمالو دکولو اُجازه ورکړې وي او ورته به یې ویلي وي چه څوک منکرات منع کوي، نو ته ورته اشاعت ورکوه. چه ګوندي مسابقه دې روانه وي. نو اوس ته (ګوندي) راته ووایه چه تا ته څه رنګه مسلمان وویلې شو؟ او ته

په کوم جرات ځان ته مسلمان وايي؟

که دغه د پيښور مشران د دغه ډول اعمالو څخه خبروی، او بيا يې پرې سترګې پټې کړې وي، نو بيا دا د دغو مشرانو د بې کفايتې دليل دی، عقل پکار دی، مونږ او تاسو بايد په خپل ګريوان کښې سرښکته کړو او قضاوت وکړو چه کومې قربانۍ او په يوه لويشت ځمکه کښې هم د اسلامي حکومت قيام نه شي موندلی. مونږ ټول وحدت ته اوس هم اړ يو او وروسته هم اړ يو، دا مجبوريت هر وخت له مونږ سره ملګری دی، دا چه وروسته وحدت کوو. اوس چه زمونږ عاجل او فيصله کن ضرورت دی، ولې وحدت نه کوو او داسلامي نظام داستحکام په جهت کښې قايميږي او څوک چه ځان ته مسلمان وائي هغه دی د هغو ملاتړ نه کوی، دوی څه امتيازات غواړي او څه شرايط له ځانه سره لري؟

مونږ ټول مجاهدين به فرد فرد د الله جل جلاله حضور ته ورځو او له هر يوه سره د خپلو اعمالو احساب کيږي او زمونږ د

هيڅکله زما دا باور نه راځي چه خدای ناخواسته د پيښور مشرانو به دوی ته ددې ډول اعمالو دکولو اجازه ورکړې وي او ورته به يې ويلي وي چه څوک منکرات منع کوي، نو ته ورته اشاعت ورکوه. چه ګوندي مسابقه دې روانه وي. نو اوس ته (ګوندی) راته ووايه چه تا ته څه رنګه مسلمان وويلي شو؟ او ته په کوم جرات ځان ته مسلمان وايي؟

مونږ ددې اسلامي امارت د قيام لپاره ورکړې بايد چه د هغه ثمره په خپل ژوند ترلاسه کړو.

دا چه مونږ مخالف يو، چا مخالف کړي يو او دا اختلاف له څه شي څخه راپورته شوی دی؟ څوک راته وايي چه تاسو اسلامي امارت مه قايموی؟ آيا شرق او غرب به راځي او مونږ او تاسو به متحد کوي؟

دا څرګند حقيقت دی چې د وحدت او اتفاق څخه په غير په ‌ﻩفانستان کښې څه چه په يوه ولايت کښې، په يوه ‌ﻩاطقه کښې، شريکې هلې ځلې نه کوو؟

اسلام هيڅا ته ددې حکم نه کوی. چه په يوه ځای کښې دې داسې شرايط برابر وي چه د منکراتو مخ نيوی کيږي، د ظلم د خاتمې او د مظلوم د لاس نيوی هلې ځلې کيږي، د اسلامي تعليماتو د رواجولو تپ او تالاش کيږي، د اسلامي جهاد د پرمختګ لپاره د مجاهدينو صفوف متحد کيږي، او د عمومي امنيت د تأمين او د خلکو د مال، ځان او آبرو د حفاظت په خاطر اسلامي ادارات په مختلفو منطقو کښې خپلو اعمالو نتيجه به مونږ ته رارسيږي. د شيخ جميل الرحمن په قيادت او يا د حکمتيار په قيادت به شايد چه زه خلاص نه شم.

په دې خبره بايد سوچ وکړو، چه مونږ مسلمانان يو او اسلامي جهاد ته موملاتړلی ده. زمونږ د جهاد غرض او غايه څه ده؟ زمونږ د جهاد غايه د اسلامي امارت او د اسلامي حکومت قيام دی. د دې نظام د قيام لپاره د فکر او عمل وحدت ته له هر څه څخه لمړی ضرورت دی، اتفاق ضرورت دی، توافق ضروری دی او

که څوک یی نه کوی شاید چه په بی اتفاقی کښی به د هغوی شخصی منافع خوندی وی.

هغه ځوانان او هغه مجاهدین چه ځانونه حق پرست بولی. خپلو ټولو هغو نمایندگانو ته په جرأت سره باید ددی خبری وینا وکړی او له گریوان څخه یی کش کړی. او ورته ووایی چه آیا په دی اداره کښی څه نواقص دی؟ ددی نواقصو د اثبات لپاره څه استدلال لری؟ خدای ناخواسته که کوم نواقص موجود وی، ملاوتړه او ددی نواقصو د اصلاح په جهت کښی هڅه وکړه، ددی اداری په مقابل کښی د ملاتړ پرځای د مخالفت اجازه تا ته کوم ایمان درکوی؟ او یا ددی اداری په مقابل کښی د بلی اداری د جوړولو اجازه تا ته کوم اسلام درکوی؟

هغه ځوانان او هغه مجاهدین چه ځانونه حق پرست بولی. خپلو ټولو هغو نمایندگانو ته په جرأت سره باید ددی خبری وینا وکړی او له گریوان څخه یی کش کړی. او ورته ووایی چه آیا په دی اداره کښی څه نواقص دی؟ ددی نواقصو د اثبات لپاره څه استدلال لری؟ خدای ناخواسته که کوم نواقص موجود وی، ملاوتړه او ددی نواقصو د اصلاح په جهت کښی هڅه وکړه، ددی اداری په مقابل کښی د ملاتړ پرځای د مخالفت اجازه تا ته کوم ایمان درکوی؟ او یا ددی اداری په مقابل کښی د بلی اداری د جوړولو اجازه تا ته کوم اسلام درکوی؟

په داسی حال کښی چه اسلام ته مکلف کړی یی چه ستا د تعهداتو په سلسله کښی چه دا اداره جوړه شوی ده، باید د هغی اطاعت وکړی، که کومه نیمگړتیا په کښی موجوده وی، د هغی د اصلاح کوشش وکړه او د مصلح پرځای د مفسد صفت مه غوره کوه.

که بیا هم په دی اداره کښی داسی نواقص وی چه خدای ناخواسته شرعاً هغه ستا د ملاتړ او همکاری مخ نیوی کوی، نو مهربانی وکړه راځه زمونږ وروریی چه سره کښینو بحث او مشوره وکړو. یو بل ته د «انما المؤمنون اخوة فاصلحوا بین اخویکم» د هدایت مصداق شو.

دا خو تاته هم ثابته ده او ستا خپل تعهد او فیصله هم داده چه د مشر ورور شیخ صاحب جمیل الرحمن په قیادت خو ددی منطقی ټول خلک درأیو په اتفاق متفق دی. او ټول دا قیادت وربولی او تسلیموی یی، خو چه بیا د خلکو عمل ته گورو داختلاف سنگر نیسی. دا اختلاف ستا ددین او ایمان لپاره ډیر زیان لری، نسبت دی ته چه که ته په دی اداره کښی سره له دی چه که خدای ناخواسته نواقص هم ولری او ته پکښی شمولیت وکړی.

زما حاضرینو ته دا خواست دی چه په اخلاص سره د الله (جل جلاله) په وړاندی خپله ژمنه او تعهد تجدید کړی او د طواغیتو او کفره ؤ هغه توطئه او دسیسه په نطفه کښی خنثی کړی چه وایی افغانان د حکومت جوړولو صلاحیت نه لری. راځی چه په خپل عمل د دوی خولو ته دندان شکن ځواب ورکړو او ټولی دنیا ته دا ثابته کړو چه په مونږ افغانانو کښی داسلامی حکومت د

جوړولو استعداد شته او دادی عملا یی ووینی.

دا اداره د ټولو تنظیمونو لپاره جوړه ده او د ټولو تنظیمونو نمایندګان او مسئولین پکی وجود لری. او د ټول کنړ لپاره جوړه ده، د هر تنظیم، هر قوم او د هر رنګ، هری ژبی والا لپاره جوړه ده.. په دی کښی کوم تنظیم ته فوقیت نشته. ټولو او هر چا ته د هغه داستعداد په اندازه کار ورسپارل کیږی دا ستاسو د ټولو مجاهدینو اداره ده.

هغه څوګ چه منفی تبلیغات کوی او دا اسلامی اداره په مختلفو نومونو حملوی دا د هغوی سؤ تبلیغات دی. دا د هغوی د شکست او ناکامی نتیجه ده. که دوی په خپل دی دریغ کښی تجدید نظر ونه کړی او د حسد او کینی په مرض مبتلا پاتی شی. نو خیریی نشته، اول او آخر به له دی جامعی څخه تجرید کیږی. او د خپلو شخصی

ګټو او منافعو جوال ته به ورسپارل کیږی.

زه نه پوهیزم دا خلک ولی ددی اداری په تضعیف کولو کښی هڅه کوی په داسی حال کښی چه دوی په خپلو سترګو وینی چه ولی ولی خلک او د دوئ د څنګ ملګری، ګروپونه ګروپونه راځی او ددی اداری سره شرعی بیعت کوی. او ددی اداری په حمایت او ملاتړ کښی متعهد کیږی.

دوی ته اسلام ددی اجازه نه ورکوی چه دوی دی داسلام او ایمان مخالف عمل وکړی.

ټول هغه ورونه چه د اسلامی تنظیمونو مشران دی. او د جهاد په میدان کښی یی هلی ځلی کړی او قربانی یی قبولی کړی دی. مونږ ته داحترام وړدی. مونږ تری امید لرو چه زمونږ هلی ځلی به هم تقدیر وی او مونږه ته به د مرستی او همکاری لاس راکوی. او د تاریخ جوړونی په دی حساسه مرحله کښی به مو یوازی

نه پریږدی. بلکه زمونږ دا عمل د دوی ټولو د حیثیت او وقار حفاظت کوی. او د دوی لپاره همدا مرستندوی ګرځی. او د افغانستان دراتلونکی اسلامی حکومت لپاره یوه‌ښنستیزه پشتوانه ګرځی.

ورونو: مونږ باید چاته د دی اجازه ورنکړو چه د خپل ایمان د قوماندی په مقابل کښی د بل چا قوماندې، پر مونږ غالبه کړی.

خپل ایمان او اسلام راته امر کوی چۀ دلته باید یوه واحده اسلامی اداره چه قایمه ده مستحکمه کړو، اسلامی نظام تطبیق کړو. دا زمونږ د ټولو آرزوده او د ټولو کونډو، یتیمانو، معیوبینو، مهاجرینو او مجاهدینو انتظار دی. د ټول مسلم امت انتظار دی الله دی نه کړی چه مونږ د ټول امت انتظار شاته وغورځوو. او د خپلو ذاتی او شخصی خواهشاتو د پوره کولو په خاطر د الله (جل جلاله) د حکم پرځای د باغی

دا اداره د ټولو تنظیمونو لپاره جوړه ده او د ټولو تنظیمونو نمایندګان او مسئولین پکی وجود لری. او د ټول کنړ لپاره جوړه ده، د هر تنظیم، هر قوم او د هر رنګ، هری ژبی والا لپاره جوړه ده.. په دی کښی کوم تنظیم ته فوقیت نشته. ټولو او هر چا ته د هغه داستعداد په اندازه کار ورسپارل کیږی دا ستاسو د ټولو مجاهدینو اداره ده.

پاتی په (۴۳) مخ کښی

د نړۍ د مسلمانانو په نوم د لینین ګراد د جامع مسجد د خطیب پرانیستی لیک

لنین ګراډ دروس د مشهورو ښارونو له جملې څخه حسابیږي ، چه په کافي اندازه مسلمانان پکې آباددی ، د لینن ګراډ د مرکزي جومات خطیب او امام عبدالمجید محمدولي المحمودي د نړۍ د مسلمانانو په نوم یو لیك راستولی چه د هغه ځای د مسلمانانو د بدحالی او د کی ، جی ، بی د بدمعاشانو د مظالمو په باره کې ئی کافي معلومات راجمع کړیدي چه مونږ ئی پښتو ترجمه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوو .

بسم الله الرحمن الرحیم

حمد و ثنا دې وی الله تعالی لره او درود وسلام دی وی په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندی .

د نړۍ د ټولو مسلمانانو ورونو په نوم چه د روس دوحشت او بربریت له سیوری نه په امان دی وړاندیز کوم چه هغوی دې د عالمی ادارو په سطح زما هجرت لنین ګراډ نه آسان او په دغه لارکی دې خپل ایمانی او وجدانی وظیفه په پوره اخلاص سرته ورسوی .

زما د مظلومیت نه یك داستان څه دارنګه دی : زه یو عالم دین یم د بخارا د اسلامی.انستیتوت نه می په کال (۱۹٤٤) عیسوی کی د اعلی تعلیم ډګری حاصله کړه ، بیا وروسته په مختلفو دینی منصبونو باندی فایز شوم . ان تردی چه د سائبیریا او د روس په یورپی سیمو کی د هغه ځای د مسلمانانو د دینی محکمی نائب مفتی مقرر کړی شوم او بیا وروسته په کال ۱۹۷۲ عیسوی کی د لنین ګراد د ښار د مرکزی جومات د خطیب په حیث وټاکلی شوم .

زما د کورنۍ شمیره ټوله(۷) کسانو ته رسیږی چه په هغو کی زما(۹۷) کلنه مور هم شامله ده ، چه د کمونستانو د انسانی ضد اعمالو له لاسه په اورکی ولاړدی . د کی ـ جی ـ بی ـ د بدمعاشانو لخوا چه کوم مظالم زما سره کیږی ، تقریبا د پنځلسو کلونو راهیسی جریان لری چه په هغو کی وهل ټکول او ډول ډول شکنجی او وروسته بیا په دارالمجانینو کی د یو ذهنی مریض په نوم داخلول هم شامل دی . کله مو له خپله کوره را بهر کړی او راته امر وکړی چه په کوڅه کی اوسیږئ ، کله مو په هفتو هفتو نهر وساتی کله مو د روس د اساسی قانون د (۲۳) مادی په اساس د مخدره موادو د قاچاقبر په طور زندانی کړی ، او چه کله مسلمانان د لمانځه لپاره جومات ته راشی ، نو د کی ـ جی ـ بی دغه داړه ماران ما د مسلمانانو په وړاندی د

اعمالو په سزا ورسيږي.

البته د نجيب د دهری حکومت مقصد به د دی ډول بزدلانه عمل څخه داوو چه ددی ډول فاجعی په رامينځ ته کيدلو سره به دمجاهدينو د سرشار مورال او روحيی گراف راښکته کړی، خوبر عکس هر څومره چه اوسپنه په اورکی گرمه او په پلکونو وټکول شی ، په هماغه اندازه ئی مقاومت زيات او سختيږی اوښه ضربه واردولی شی.

دافغانستان مجاهد ملت چه دتيرو ديارلسو کلونو په جريان کی ددی ډول کمونيستی فاجعو سره آشنا او بلددی او د کابل لاس پوڅی رژيم او د روسی استعمار وحشی عسکرو ونشو کولای چه دوی له خپل جهادی عزم څخه وگرځوی، همدغه رنگه به دآينده لپاره هم په خپل جهادی عزم سره د پخوا څخه لا زيات ټينگ ولاړ وی او استعمار نشی کولی چه د دی قهرمان ملت په تصميم گيری او جهادی مورال کی د ذری په اندازه کمزوری را مينځ ته کړی، بلکه د دی ډول کمونستی فاجعو په تکرار سره به دا قهرمان ملت دپخوا څخه لازيات د خپلو اسلامی اهدافو دلاسته راوړلو په هيله مصمم او هر ډول قربانی ته به حاضراو آماده شی.

د دی فاجعی په نتيجه کی د قربانی شوو شهيدانو روح ته دعا کوو او د الله جل جلاله څخه ورته د زيات مغفرت غوښتونکی يو ، الله جل جلاله دې دې شهيدانو ته دخپل رحمت په غيږکی ځای ورکړی او د هغوی د باز مانده گانو لپاره د الله جل جلاله له حضور څخه د لوی صبر او زغم غوښتونکی يو او د الله جل جلاله حضور ته دعا کوو چه د دی فاجعی په نتيجه کی زخميانو مجاهدينو ورونو ته شفااوصحت ورکړی او مونږ ته دی ددی توفيق را په برخه کړی چه په خپلو لاسونو ددوی انتقام ددين او وطن له دشمنانو څخه په ډيرژروخت کی واخلو او دهمدوی دشهادت په لاره دی الله جل جلاله دتللو توفيق اووس راکړی او په افغانستان کی دې داسلامی حکومت دقيام فريضه زمونږ په زريعه تر سره کړی.

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

د اسلامی امارت له خوا

همدا اوس دافغانستان دجهادمشران غواړی چه په افغانستان کښی انتخابات وکړی او انتخاباتی نظام یا دغربیانو نظام جوړ کړی چه همدا نظام دټولو فتنو او فسادونو منشاء او منبع ده ، هغه څوک چه دلسو روپولپاره ځان او ایمان خرڅوی هغه ته دا امتیاز ورکول چه تاته د" ووټ" حق درکړی شوی دی ، د دی ملک سیاسی قدرت تا ته حواله دی او ته حاکم ئی ، داهغه لاره او طریقه ده چه غربیانو او کفره وو داسلامی نظام په عوض خوښه کړی ده"

(الشیخ جمیل الرحمن)

مخدره موادو یو قاچاقبر معرفی کړی او د خلکو په وړاندی زما بی عزتی او توهین وکړی او وروسته می د وحشت هغه زندان ته واچوی چه د تحریکی مسلمانانو لپاره جوړ کړی شوی دی او راته وائی چه صرف د کی ـ جی ـ بی ـ عضویت قبول کړه، بیا گرځه مزی کوه.

او مرام دادی چه زه دی د هغوی لپاره د جاسوسی وظیفه سرته ورسوم او چه څه هغوی وائی هغه دی وکړم

او په دغه وجه ئی زه له خپل منصب نه هم معزول کړم، د کریملن د واکدارانو لخوا چه زمونږ سره کوم ظلم کیږی، یو څو ئی د مثال په ډول وړاندی کوم

٣ : د کی ـ جی ـ بی ـ کارکوونکی د کور د تالاشی په دوران کښی زما مختلف دینی کتابونه له ځانه سره یوسی، د دی لپاره چه زه تری استفاده ونکړای شم.

٤ : د کی ـ جی ـ بی ـ شبکه د خپلو دستوری ملایانو په واسطه د مسلمانانو په منځ کی دا پروپاگند

د کی ـ جی ـ بی ـ د بدمعاشانو لخوا چه کوم مظالم زما سره کیږي، تقریباً د پنځلسو کلونو راهیسې جریان لري چه په هغو کې وهل ټکول او ډول ډول شکنجې او وروسته بیا په دارالمجانینو کې د یو ذهني مریض په نوم داخلول هم شامل دي. کله مو له خپله کوره را بهر کړي او راته امر وکړي چه په کوڅه کې اوسیږئ، کله مو په هفتو هفتو نهر وساتي کله مو د روس د اساسی قانون د (٢٣) مادې په اساس د مخدره موادو د قاچاقبر په طور زندانی کړي».

په دی ټولو ناکردو چه ددوئ زړه یخ نشی نو خپل یو بل شیطانی چال عملی کړی او هغه دا چه زما میرمن زندانی کړی. د ډول ډول شکنجو او په وجود باندی ئی د تیزاب شیندلو وروسته ورته وائی چه خپل خاوند دی ته مجبور کړه چه زمونږ خبری ته غاړه کیږدی، مونږ به ستا او ستا د بچو د ژوند ټولی اړتیاوی پوره کړو او ستا د بچو لپاره به د وړیا تعلیم زمینه برابره کړو او که دا نشی کولی نو مونږ به تااو ستا بچی د لینن گراډ نه فراری کړو.

د کمونستانو ددی ټولو مظالمو مقصد

١ : د کی ـ جی ـ بی ـ د شبکی غړی زمونږ کورته بی خبره را دننه شی او په تالاشی لاس پوری کړی. بیا آشپز خانی ته ورشی، چاړه راواخلی او زما میرمن پری دومره وهی چه په وینو کی ئی لت پت کړی او وربانދی دا طور ولگوی چه هغی غوښتل چه زمونږ ملگری (پولیس) په چاړه زخمی کړی

٢ : د کی ـ جی ـ بی ـ دستوری کسان د لینن گراډ د ژمی په یخه یخنی کی زمونږ د کور شیشی ماتوی، ددی لپاره چه مونږ په مختلفو امراضو مبتلاء شو .

کوی چه گوندی زه د مخدره موادو یو قاچاقبر یم، تر څو له ما څخه د مسلمانانو نفرت پیدا شی .

٥ : د کی ـ جی ـ بی ـ کسانو زما لور رحیمه او زما ځوی ضیاءالدین په موټر ارادتاً ووهل او پښی او لاسونه ئی ورته مات کړل.

٦ : د کمونست گوند مشران لکه میدویدیف، زایکوف او نودیکوف په ما او زما په فامیل باندی د دروغو مقدمی درج کړی او مختلف النوع آذیتونه راکوی

نو پدی وجه زه د نړی د ټولو مسلمانانو ورونو نه هیله کوم چه

هغوی دی د عالمی ادارو په ذریعه زما هجرت د لینن گراد نه آسان او په دغه لار کی دی زما مکمله مرسته وکړی.

ضعیف العقیده ملایان ئی په خپل شیطانی چال کی راگیر کړی او د هغوی په واسطه په جوماتونو کی

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
عبدالحفیظ محمد ولی نمه‌مودی
د لینن گراد (روس) د مرکزی مسجد

«کمونستان دهریان دی هغوی کوم دین ته قایل ندی، خو له بده مرغه بعضې ضعیف العقیده ملایان ئی په خپل شیطانی چال کی راگیر کړی او د هغوی په واسطه په جوماتونو کی مسلمانان له صحیح لارې (اسلام) نه متنفره کوی، چه دا قسم جعلی ملایان په اصل کې هغه دهریان دي چه د اسلام په جامه کې د کمونیزم لپاره تبلیغ کوي».

او د کمونستانو د دغه ظلم، وحشت او بربریت نه دي زما د خلاصون لاره هواره کړی.

کمونستان دهریان دی هغوی کوم دین ته قایل ندی، خو له بده مرغه بعضی

مسلمانان له صحیح لاری (اسلام) نه متنفره کوی، چه دا قسم جعلی ملایان په اصل کی هغه دهریان دی چه د اسلام په جامه کی د کمونیزم لپاره تبلیغ کوی.

امام او خطیب

(د کویت د المجتمع د اوه نیزی مجلی په شکریه)

د (۱۸) مخ پاتی

د کنړ دوروستی پیښی په باب رسیدلی لنډ راپور

پروگرام درلود. ددی واقعی په باب مولوی صاحب احسان الله مجاهدینو ته په خپلو خبرو کښی وویل «داسی پیښی د پریشانی وړندی، ستاسی قربانی ضایع کیږی نهٔ، بلکه همدا واقعات او قربانی دی چه اسلامی امارت ته

تکامل ښئی.

تاسو ټولو د اسلامی امارت ساتندویانو د الله تعالی نصرت او مرسته پخپلو سترگو ولیده، د هغی په مقابل کښی د الله تعالی شکر آداء کړئ. هغه ورونه چه خطاء شوی او د بغاوت لیاره یی

غوره کړی، هغوی پوه کړئ او د نفرت په ځای ورته د وروزگلوی او محبت درس ورښیا یاست. واقعاً بری د متقیانو په برخه دی» والسلام.

د خوست د فتحې په هکله د کونړ ولود اسلامي امارت اعلاميه

قال الله تعالى:

«أن الله يحب الذين يقاتلون فى سبيله صفا كانهم بنيان موصوص» الاية

د افغانستان د کونړونو اسلامي امارت د خوست د فتح کيدو په مناسبت اتلو مؤمنو مجاهدينو ورونو او ټول اسلامي امت ته دزړه له کومې تبريکي تقديموي او د الله تعالى څخه شکر ادا کوي چه د اسلامي افغانستان د خاورى يوه برخه د ملحدينو او کمونستانو د ناولو قدمو څخه پاکه شوه.

مومنو مجاهدينو ورونو:

د افغانستان د کنړونو اسلامي امارت په منطقه کښې د اسلامي شريعت په تطبيق د امنيت د قيام، د جهاد د استمرار، د جهادي صفونو د يووالي او د مسلمانانو د ژوند، مال، ناموس او آبرو د تحفظ پخاطر تأسيس شوى او الحمد لله د پورتنيو اهدافو په حصول کښې يې مؤثرګامونه اخيستي دي. اسلامي آمارت د پکتيا د مؤمنو مجاهدينو ورونو سره د اسلامي اخوت او ايماني مسئوليت په بنياد ددى يادونه غواړى چه د خوست يا بلى منطقى په فتحى سره څمونږه ديني و جائب سرته نه رسي بلکه نورهم درانده کيږي.

الله تعالى فرمائى: ومن لم يحكم بما انزالله فاولئک هم الکافرون. مائده (٤٤)

ترجمه: کوم خلک چه د الله له نازل کړى قانون سره سمې فيصلې ونه کړى هماغوى کافران دي:

د اسلامي شريعت تنفيذ - د امنيت قيام، د جهادي آثراتو تحفظ د مسلمانانو د آبرو، عزت، ژوند او مال ساتنه د يوى اسلامي ادارى تأسيس او همدارنګى نورى ذمه واريانى د افغانستان د يوى لويشت خاورى د آزادى سره خامخا تړلى دي.

مجاهدينو ورونو! روسان سره لدى چه د افغانستان د مجاهد مسلمان ملت په سرښندنه د نړۍ په سطح له رسوائى سره مخامخ شوى دى. او په اقتصادى ستونزو او داخلى مشکلاتو کښې را ګير دى مګر باوجود ددى هم د خپل وړى ملت د خولى څخه نمړى سپموى او د خپل ګوډاګى مزدور نجيب رژيم ورباندى تقويه کوى. د نجيب د قدرت د ساتنى لپاره سکډ ميزائل او بارود څمونږه د ملک د تخريب لپاره را استوى. د دى په څنګ کښې يې په جهادى صفونو کښې د اختلافاتو او انتشار د را منځته کيدلو پخاطر

بی پناه شبکی گمارلی دی. مگر مجاهدین ورونهٔ باید د ایمان په فراست او زیرکتیا د دشمن په چال کښی گیر نه شی. او په ډیر متانت سره د دشمن د ټولو فریبونو سره مقاومت وکړی. او پری نږدی چه د کفری ځواکونو شیطانی هیلی سرته ورسیږی او مجاهدین د اختلافاتو او تفرقی ښکار نه شی.

مجاهدینو ورونو!

الله تعالی فرمایی: (إن تنصروا الله ینصرکم ویثبت أقدامکم) الاية

ترجمه: که د الله تعالی ددین مرسته وکړی نو الله تعالی به ستاسو مرسته وکړی او قدمونه به مو مضبوط کړی.

د الله تعالی ددین مرسته، د اسلامی شریعت تنفیذ دی همدا ددی زمینه سازی کوی چه په منطقه کښی واحد اسلامی قیادت وجود ته راشی او د خلکو ژوند مال او آبرو وساتل شی او بالآخره د جهاد د اوږدی مودی اصلی هدف په لاس راشی او ددی باعث وګرځی چه زمونږ او ستاسو په مخ د نورو فتوحاتو دروازی خلاصی شی. الله تعالی فرمائی:

«اذا جاء نصرالله والفتح ورأیت الناس یدخلون فی دین الله افواجا. فسبح بحمد ربک واستغفره. انه کان توابا»

ترجمه: کله چه د الله مرسته راشی او بری (در) په برخه شی او (ای پیغمبره!) ته گوری چه خلک ډلی ډلی په دین کښی داخلیږی، نو د خپل رب له ثناستاینی سره د هغه تسبیح وکړه او له هغه نه بښنه وغواړه، بیشکه هغه سترتوبه قبلوونکی دی.(د افغانستان د کنړونو د اسلامی امارت د شورا لخوا)۰

د (۳۸) مخ پاتی

په وعده وفا کول د ریښتینی ۸

خلقو حکم ته سرښکته کړو.

په آخر کښی په دی ټول پوهیږو چه هغه ورځ راتلونکی ده چه الله (جل جلاله) به زمونږ ځخه د هغو نعمتونو پوښتنه کوی چه کوم یی مونږ ته راکړی دی. هیله ده چه دغه ورځ په پام کښی ونیسو او په خپل فردی او اجتماعی ژوندانه کښی هغه لاره خپله کړو چه د الله په معصیت کښی د مخلوق د خوشحالی وسیله نه شو. او الله (جل جلاله) دی مونږ ټولو ته د نیک عمل توفیق راکړی.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د (۲۴) مخ پاتی

حقانیت مسلک اهلحدیث

مبنا است و گروه گروه به قبول و پذیرفتن آن آماده اند و دین اسلام در دایرهٔ آن می چرخد، آنوقت خدا بهتر می داند که مشرکین در شکرانهٔ آن (انحراف مسلمین از اصل دین شان) به آستان بتان خود چه نذر ها انجام دهند و نصاری برحضرت مسیح خود چه خراج عقیدت و خلوص نیت و عبادت نشان دهند.

(ادامه دارد)

راغلي ليكونه

د دعوت د مجلې كاركوونكو!
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

الله تعالى مو د خير په كارونو كښې بريالى لره. د دعوت د مجلې په كتنه موډيره تسلي كيږي.

ورونو! زه درته يو خلاص ليك در استوم چه په ډير تأثر مې ليكلى دى، نه پوهيږم چه تاسو به يې نشر مناسب وبولى او كه نه؟ په هر حال زه خو به يې دروليږم، نور نو ستاسو خو ښه ده چه نشروئ يې او كه نه؟ زه به خپله غاړه خلاصه كړم، باقى ستاسو كار دى، خو زما هيله دا ده چه نشر يې كړى ځكه چه دا زما دزړه آواز دى او د مجاهدينو ورونو غوږو ته يې رسول غواړم، خداى دى وكړى چه ټول مجاهدين يې ولولى او سوچ پرې وكړى او زما به حجت اتمام شى والسلام ستاسو وروړ(ح - د) له هريپور كيمپ څخه

د هريپور د كيمپ محترمه وروره (ح - د)!

وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته!

وروره! ستا دزړه آواز، زما د زړه آواز او بالاخره د ټولو مجاهدينو او په اسلام مينو مسلمانانو د زړونو آواز دى، پدى اساس موستاسو شكلى ليك چه د حجت د اتمام په نيت ليكلى ؤ، بيله كم وكاست نه نشر ته وسپاره، مونږ هم له تاسو سره خپل آواز غبرگوو چه ټول مسلمانان او مجاهد ورونه هغه د زړه په غوږو واورى والسلام (اداره)

مجاهدينو ورونو! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

الله تعالى فرمائى: «وجاهدوا فى الله حق جهاده» الاية (الحج - ٧٨)

ديارلس كاله قربانى، ربړونه، تكاليف، لوږى، تندى، بى شميره قربانيان، كونډى، رنډى، يتيمان او بى وزله در په در مهاجرين، دا ټول د څه لپاره وشول؟ او د دوى يوازينى آرمان څه ؤ؟

زما نه هيريږى چه له ماسره په سنگر كښى يو مجاهد وروړ چه د دښمن په گوليو سورى سورى او د شهيدانو له كاروان سره د يو ځاى كيدو پحال كښى ؤ، داسى وويل:

«مجاهده وروره! زه كه شهيد شوم خير دى، خو چه د الله په ځمكه د اسلام تر حاكميت پورى خپل ټوپك له لاسه و نه غورزوى! آه! زه خو لاړم چه زما آرمان هيرنكړى، آه! اسلام» زمونږ د ټولو شهيدانو دا يوازينى آرمان ؤ او دى چه راتلونكى نسلونه دى د اسلام ترسيورى لاندى په آزادى او سوكالى سره ژوند وكړى او زمونږ د ټولو كونډو، رنډو، يتيمانو او معيوبينو دا آرزو وه او ده چه كه پرمونږ هر څه تيرشى خير دى خو چه راتلونكى

مو د اسلام په نعمت سیراب شی او دا واقعیت دی چه الله تعالی فرمائی: «لن یجعل الله الکافرین علی المؤمنین سبیلا» الایة (النساء - ١٤١)

(یعنی الله د کافرانو لپاره پر مؤمنانو باندی د برلاس کیدو هیڅ کومه لاره نده جوړه کړی)

بل ځای فرمائی: «ولله العزة ولرسوله وللمؤمنین» الایة (المنفقون - ٦٣٨) یعنی عزت د الله او د هغه د رسول او د مؤمنانو لپاره دی.

همدا د سرښندنی او قربانی محصول ؤ چه د الله تعالی په نصرت او امداد سره د لومړی ځل لپاره د کونړ ولایت په کامله توگه د الحاد د مزدورانو له ناولو قدمو څخه پاک شو. د دغی سیمی مجاهدینو چه د افغانستان. په جهاد کښی یی د پیل کیدو د لومړی توب ویاړ گټلی ؤ، ددی ویاړیی هم وگاټه چه په ټول افغانستان کښی د لومړی ځل لپاره د الله تعالی قانون ته تسلیم شول او د لومړی

اسلامی اداری او د شیخ جمیل الرحمن په څیر د یو صالح قیادت نعمت هم الله تعالی د دغی سیمی د مجاهدینو په برخه کړ.

دغه قیادت د ټولو ستونزو، خنډونو او موانعو سره سره، خپله ذمه واری سرته ورسوله او په پوره جرئت یی د ټولو خنډونو باوجود په دغه سیمه کښی د شریعت د نفاذ لپاره اسلامی اداره جوړه کره او د سیمی په خلکو یی د الله تعالی په وړاندی دلیل قایم کړ. هغه خو بری شو، مگر مونږ له آزمیښت سره مخامخ شوو. له هر لوری د دغه اسلامی امارت مخالفتونه شروع شول.

اسلامی امارت د دوست او دښمن له خوا په ډیری بی انصافی سره د کمی او کیفی غشو اماج شو، له دغی د شرق ضدنو تأسیسی اداری څخه غرب هم د خطر احساس وکړ او خپلو دوستانو ته یی د هغی پرضد د دسیسو د جوړولو قومانده ورکړه.

د غرب انډیوالانو یو شمیر ډاکوان اولاروهونکی مسلح کړل او ددغی اداری په مقابل کښی د قیام لپاره یی وهڅول، همدارنگه یو شمیر په نوم مجاهدینو هم خپلو شخصی اغراضو او مادی گټو ته د اسلام په تنفیذ ترجیح ورکړه او هغه دغه یی پیل کړل، دوئ هم چه اسلام د خپلو وسلو د خرڅلاو او سوداگری پرضد ولید، نو په مختلفو ذریعو یی د دغی اسلامی اداری د تضعیف لپاره خپلی هلی ځلی شروع او پکار واچولی.

دیارلس کاله قربانی، ربړونه، تکالیف، لوږی، تندی، بی شمیره قربانیان، کونډی، رنډی، یتیمان او بی وزله در په در مهاجرین، دا ټول د څه لپاره وشول؟ او د دوی یوازینی آرمان څه ؤ؟

پوښتنه: قوماندانانو ورونو! تاسو چه د دغی اسلامی اداری پرضد هڅول شوی یاست، آیا د الله جل جلاله په وړاندی د خپلو کړو د توجیه لپاره کوم شرعی دلیل لری او که نه؟

خوزه د یو مسلمان په حیث له هغو مسلمانو قوماندانانو او مجاهدینو څخه پوښتنه کوم، کوم چه د یو اسلامی نظام د راوستلو آرمان لری:

پوښتنه: قوماندانانو ورونو! تاسو چه د دغی اسلامی اداری پرضد هڅول شوی یاست، آیا د

الله جل جلاله په وړاندې د خپلو کړو د توجیه لپاره کوم شرعی دلیل لرې او که نه؟

اسلامی امارت ددې ډول دسیسو په وړاندی هم مقاومت وکړ او د دوی چالونه یې یو په بل پسې رسوا او خنثی کړل، بیایې په ډله ایزه توګه وسله وال تصادم ته زړه ښه کړ، شاید فکر یې کړی وی چه نور یې مادی او دنیوی مصلحتونه په ختمیدودی او د خرید او فروش مارکیټ یې بندیږی، هغه د چا خبره «په پردی زامنو د دوی څه؟»

خو مجاهده وروره! ښه فکر وکړه. آیا د قیامت په ورځ به همدا قوماندان تا د الله جل جلاله له مؤخذی څخه خلاص کړای شی؟ آیا ته کوم شرعی دلیل لری چه د اسلامی امارت مخالفت کوی؟

پدی هم بریالی نه شول، نو یو قدم نورهم وړاندی راغلل او د هغو منکراتو او ناروا ؤ په ترویج او نشرولو یی شروع وکړه کوم چه اسلامی امارت منع کری او بند کری وو! مسلحی ډلی یی کلیو او بازارونو ته ولیږلی او د منکراتو د رواجولو دستور یي ورکړ چه الحمدلله والمنة پدی هم بریالی نه شول، نو اوس بیاهم یوه پوښتنه:

مجاهده وروره! ستا دا دومره قربانی او جهاد د ګناهونو او منکراتو د ترویج لپاره دی او که د خپل عمل لپاره کوم شرعی دلیل لری؟ لږ سوچ او غور وکړه، خپل وجدان قاضی کړه او په خپل ګریوان کښی محکمه او فیصله وکړه، که کوم شرعی دلیل درسره وی، نو ماهم قانع کړه، زه به هم درسره یم. آیا دا به ښه وی چه

خو مجاهده وروره! ښه فکر وکړه. آیا د قیامت په ورځ به همدا قوماندان تا د الله جل جلاله له مؤخذی څخه خلاص کړای شی؟ آیا ته کوم شرعی دلیل لری چه د اسلامی امارت مخالفت کوی؟

دغه اسلامی امارت پوازې ستا د ضررونو دفع وکړی او که دا به ښه وی چه ته اوزه ټول له اسلامی امارت سره یوځای د الله جل جلاله د دین او د الله جل جلاله د بندګانو خدمت وکړو؟

پدی وروستیو ورځو کښی چه د مزدور رژیم له خوا د «اسدآباد» ښار په ډیر بی رحمانه ډول په سکډ وویشتل شو او د خپلو تاریخی جنایاتو په لړ کښی د یو بل جنایت مرتکب شو چه زمونږ ډیر مجاهدین، مهاجرین او انصارورونه او خویندی یی په وینو کښی ولمبول، اسلامی امارت د دغی غملړلی پیښی لپاره د غمرازی مجلسونه جوړول او د

پوښتنه: دا کار چه ته د هغه مرتکب شوی، آیا دا په کوم دین او د کوم قوم په دستوراتو کښی شته؟

شهیدانو د وارثانو د زړونو د تکورولو لپاره یی هلی ځلی کولی، خو په عین حال او عین وخت کی د یو شمیر په نوم اسلامی ګوندونو متعلقینو د خوشی محفلونه جوړول او په ډیری بی حیائی سره یی یو بل ته د مبارکی پیغامونه تبادله کول. دا لاڅه کوی. چه هلته د شهیدانو په وینو ځمکه هماغسی لمده وه او د تعزیت مجالس لا پای ته نه وُرسیدلی چه په خیالی او وهمی قوت یو شمیر مغرورو او متکبرو افرادو د شهیدانو په کوپړو او وینو له کبر او نخوت نه ډکه مظاهره وکړه!

مجاهده وروره! تا چه د شهیدانو په کوپړو او د تن په ټوټو او وینو برسیره مارش کاوه، که دا ستا د ایمان او دینی پوهی

کمزوری وه، نو وجدان خو دی درلوده، آیا غریبی راخیستی وی؟ انضباطی دی له لاسه تلله؟ ته نه پوهیږی چه روزی له الله تعالی سره ده او هغه «رزاق» دی؟

پوښتنه: دا کار چه ته د هغه مرتکب شوی، آیا دا په کوم دین او د کوم قوم په دستوراتو کښی شته؟ دا خو د چنگیز او هلاکو طریقه وه چه د مرو له کوپړیونه به یی مناراونه جوړول او په وینو او بدنونو به یی گرځیدل. آیا ته د خپل دی عمل لپاره له گوندیتوب نه پرته بل کوم دلیل لری؟ که لری یی، راشه ماهم پوه

مجاهده وروره! ستا دا دومره قربانی او جهاد د گناهونو او منکراتو د ترویج لپاره دی او که د خپل عمل لپاره کوم شرعی دلیل لری؟ لږ سوچ او غور وکړه، خپل وجدان قاضی کړه او په خپل گریوان کښی محکمه او فیصله وکړه، که کوم شرعی دلیل درسره وی، نو ماهم قانع کړه،

کړه چه زه دی هم ملگری شم او که نه نو له الله نه وویریږه او له داسی کړونه لاس واخله، ځکه چه دا د دنیا او آخرت خذلان او هلاکت دی، الله تعالی فرمائی: «والله عزیز ذو انتقام» او بیا فرمائی «والعاقبة للمتقین»

ستا سو د سنگر دردمند ورور (ح ـ د)

د هریپور له ٤ لمبر کیمپ ځخه

د دعوت د مجلی مسئول او نورو کارکوونکو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

الله تعالی موروغ او د دعوت په کار کښی بریالی لره. زه د لغمان د ولایت او سیدونکی او د یو عادی مجاهد په صفت د سیمی د حالاتو سیل بین یم. دلته د جهاد په نوم مختلف ځواکونه سرگرم دی، ځوک یو ځه او ځوک بل ځه کوی. ځه وکړم. دپردی خبری دی، که هغه ځه په گوته کوم، کوم چه د جهاد په لیکو کښی تیریږی، نو دښمن له دروازی نه بهر راته گوری او کته تری اخلی، الله جل جلاله دی مونږ ټول په صراط مستقیم روان کړی.

په هر صورت، په کنړونو کښی د اسلامی امارت په جوړښت می ځه نا ځه امید را پیدا شوی دی، الله تعالی دی وکړی چه زمونږ امیدونه د دغه نیک قیادت او نیکی اداری ځخه تحقق ومومی.

آیا دا امکان لری چه زمونږ مطالبی د اسلامی امارت مشرتابه ته د دعوت د خپرونی له لیاری ورسوی که نه؟ په هر صورت، زه خو یی لیکم.

محترمو ورونو! د لغمان ولایت له هر ځه نه لومړی د توحید دعوت ته زیات ضرورت لری ځکه چه د دی سیمی خلک تر نورو سیمو زیات د توحید له انوارو ځخه محروم دی، آیا دا امکان شته چه مونږ هم د اسلامی امارت له فیوضاتو ځخه بهرمن شو او زمونږ په ولایت کښی د قرآن او سنت د دعوت حرکت پیل شی؟ آیا زمونږ د ولایت خلک د اسلامی امارت په مشرتابه او نورو ورونو باندی دا حق لری چه په دوی باندی هم هغه ځه پیرزو کړی لکه چه د کونړ د ولایت په

خلکو یی پیرزو کړی دی؟ آیا اسلامی دعوت یوازی په یوی منطقی پوری منحصر دی؟ زه پدی یقین لرم چه د اسلامی امارت امیر به حتماً زمونږ د خلکو د مشکلاتو تائید وکړی، ځکه چه هغه صالح او په دین پوه عالم دی، هغه به دا ومنی چه زمونږ مطالبی زمونږ شرعی حق دی. زمونږ ولایت دینی مدارسوته او د اسلامی دعوت مرکزونو ته زیات ضرورت لری، څوپدی ولایت کښی له یوی خوا د توحید دعوت پرمخ ولاړ شی او له بلی خوا د مجاهدینو په لیکو کښی د یووالی او اخوت د فضاء د را منځته کیدلو کوشش وکړی. که پدی روان حالت زمونږ ژوند جریان ولری، ددی ویره شته چه زمونږ تیرشوی او راتلونکی ژوند ټول ضایع او بی هوده شی او ددی وضعی ذمه واران به د جهادی تنظیمونو ټول مسئولین وی چه د اسلامی امارت قیادت هم پکښی شامل دی.

دایو واضح او څرگند حقیقت دی چه انسان د اسلام د سپیڅلی دین په فطرت پیدا شوی دی، نو امید لرو چه د لغمان د ولایت اوسیدونکی او قهرمان مجاهدین به په ډیره پراخه حوصله او خلاص تندی د اسلامی دعوت بلونکوته ښه راغلاست ووائی. اسلام، قومی، ملیتی، نژادی او منطقوی توپیرونه په رسمیت نه پیژنی، ټول مؤمنان سره ورونه دی، یو ورور پر بل ورورباندی ډیر حقوق لری چه تر ټولو لوی او اصلی حق دادی چه یو مسلمان ورور له اور او هلاکت څخه خلاص کړی.

نن، نه یوازی د لغمان خلک، بلکه ټول خلک یوه دردمن او په دین پوه قیادت او ناجی ته محتاج دی چه هغه یوازی د قرآن او سنت بیرغ اوچت کړی او نوری گوندی او قومی او شخصی گټی له نظره وغورزوی او د انبیاؤ علیهم السلام لیاره خپله کړی. زمونږ له نظره خو الحمدلله دغه قیادت نن د کونړونو په سردرو او د غرونو په سرو کښی په ځلیدو دی، الله تعالی دی کامیاب کړی والسلام.

ستاسو ورور حبیب الله «شفیق»

د لغمان د ولایت له او سیدونکو څخه

د لیک ځواب.

قدرمنه وروره حبیب الله «شفیق» صاحب! وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو لیک راورسید، له لوستلو څخه یی خوشحاله شوو، دا ډول لیکونه د دعوت د مجلی اداری ته له نورو سیمو څخه هم راغلی دی، مونږ ستاسو د نیکو هیلو مرستندوی او تائیدونکی یو او پدی عقیده لرو چه د اسلامی دعوت مسئولیت په یوه سیمه کښی نه پوره کیږی، بلکه اسلامی دعوت د ټولی نړی لپاره دی او گاونډیان خو په لومړی قدم کښی حقدار دی، مونږ هم ستاسو دغو ښتنی په تائید د اسلامی امارت له مشرتابه څخه دا هیله کوو چه ستاسو ورونو آرزوگانی دی د زړه په غوږو واوری او غور دی ورباندی وکړی.

د اسلامی امارت په هکله ستاسو حسن ظن د تقدیر وړ دی، الله تعالی دی وکړی چه دغه امارت په افغانستان او ټوله نړی کښی د اسلام د غوړیدو ذریعه شی.

والسلام (اداره)

بسم الله الرحمن الرحيم

نبوي ارشاد

یزید بن ابی سفیان رضی الله عنه وائی !
کوم وخت چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه
زه شام ته د والی په حیث لیږلم، نو راته ئی وویل:
یزیده! ته خپلوان لری کیدای شی چه ماموریتونه
هغوی ته وسپاری او دا هغه کار دی چه زه ستا په
باب ترینه ډیر زیات اندیښمن یم، ځکه پیغمبر
صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:
څوک چه د مسلمانانو د ځینو چارو مسؤل
وټاکل شي او هغه پر مسلمانانو باندی له
خپلو دوستانو نه یو څوک آمر مقرر کړی،
نو پر هغه د الله جل جلاله لعنت وی او د دی
جرم په بدل کښی به هیڅ ډول جریمه
ورځنه قبوله نکړی ترڅو ئی چه دوزخ ته
ننباسی.

د اسدآباد د غمناکې پېښې په هکله د افغانستان د کونړونو د اسلامي امارت اعلامیه

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لانبی بعده:

وبعد: قال الله تعالی: «من المؤمنین رجالا صدقوا ما عاهدوا الله علیه فمنهم من قضی نحبه ومنهم من ینتظرو ما بدلوا تبدیلا.» (الاحزاب - ۲۳)

ترجمه: له مؤمنانونه هغه سړی دی چه رشتیا کړیدی دوئ هغه کارونه چه وعده کړی ده دوی له الله سره په هغی سره، پس بعضی له دوی نه هغه دی چه ترسره یی کړ نذر خپل او بعضی له دوی نه هغه دی چه انتظار کوی او بدله یی نه کړه وعده خپله په بدلولو سره.

محترمو مجاهدینو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د افغانستان د کونړونو د اسلامی امارت د داخله چارو ریاست په ډیری خواشینی سره خپلو مؤمنو وطنوالو ته خبر ورکوی چه د اپریل په شلمه نیټه د مازدیگر په شپږ بجو د کابل د مزدور رژیم له خوا، «اسدآباد» په نوی او مدرن پلاستک میزائیل باندی وویشتل شو چه په نتیجه کښی یی مجاهدینو ته ډیر ځانی او مالی تاوانونه وا اوښتل.

مؤمنو مجاهدینو ورونو!

د اسلام سپیڅلی دین ددی مدرسی د اصیلوبچیانو په قربانی تردی وخته رارسیدلی او په همدی منوال پرمخ ځی.

انسانی تاریخ د ظلمونو، بربریتونو او د طواغیتو له وحشتونو څخه ډک دی، مگر نړی والو چه د افغانستان په مسلمانه خاوره کښی د کمونیزم د شرمیدلی مکتب د پیروانو، خصوصاً د نجیب له خوا، کوم ظلمونه او ناتارونه مشاهده کړی، دا د بشری تاریخ په اوږدو کښی ساری نلری.

لدی څخه پخوا، یو ځل روسی بریڅو د کونړونو د ولایت د «کرهالی» په (شهیدتون) کښی تقریباً (۱۱۰۰) ننگیالی او په دین مین مسلمانان د خپل ظلم په اور کښی په ډله ایزه توگه وسوځول اوس یی بیا په همدغه شهید پالونکی ټاټوبی کښی د ظلم او وحشت داسی اوربل کړ چه یادگار به یی د همیش لپاره د دغه شرمیدلی رژیم په تندی توروداغ وی.

ملحد نجیب د روسانو له خوا د افغان مسلمان ولس د وریتولو لپاره نوی تحفه (پلاستک میزائیل) په هغه خاوره و آزمایله، چیرته چه د اول ځل لپاره د اسلامی حکومت نوی نیالگی را ټوکیدلی او د افغان مسلمان اولس د

د اسلامي امارت اهداف او مقاصد

- د قرآن او سنّت ته دعوت
- د عمومي امنيّت انتظام
- د اسلامي وحدت استحکام
- د جهاد في سبيل الله دوام
- د اسلامي شريعت قيام
- د افغانستان د مکملې آزادۍ اهتمام
- د اسلامي روزنې پروګرام
- د اسلام د ښمنه ځواکونو اختتام
- د بې شميره قربانيو نيک انجام
- د کونډو رنډو يتيمانو لوى ارمان
- د دين، هيواد، ناموس او مال ښه حفاظت او انسجام.
- او بالآخره زمونږ د ټولو د کوششونو يوازنى مرام اسلام.

(وما النصر الا من عند الله)

كونډو رنډو او بی وزلو مهاجرينو ورته د اميدونو سترګی دی.

ملحد رژيم لدی ويری څخه چه د کنړونو د اسلامی امارت وړانګی د افغانستان نورو ولاياتو او اسلامی نړۍ ته خپرې نه شی، په ډير بی رحمانه او بزدلانه ډول يی ننګيالی مؤمن مجاهدين، دغه د مخ په وده نوی اسلامی حکومت پاسداران او انصار ورونه د پلاستيک مبرائيل د نوی تجربی ښکار کړل چه د سوونو تنو په شهادت او مجروحيت منتج شوه.

مؤمنو مجاهدينو ورونو!

زمونږ د اسلام تاريخ د شهادتونو تاريخ دی، مونږ چه کله د روسی بريښو دا ډول نامردانه حرکات وينو، نوسترګوته مو د حضرت خبيب رضی الله عنه او حضرت عاصم رضی الله عنه او نورو مظلومو شهيدانو منظری ودريږی او د کفری څواکونو حيلی او رنګ رنګ نيرنګونه مو په ذهن کښی خطور وکړی او دی نتيجی ته ورسيږو چه د اسلام په مقابل کښی د اوسنيو کفارو او منافقينو مکرونه او کيدونه د پخوانيو کفارو او منافقينو د مکرونو او کيدونو په نسبت په کميت او کيفيت کښی څو چنده زيات دی.

زمونږ مسلمان ملت چه د اسلامی جهاد په مدرسه کښی روزل شوی د الله تعالی په ليار کښی شهادت خپل يوازينی شعار او افتخار ګڼی او هيڅکله به هم د زبون او ملحد دشمن د داسی بزدلانه او ناځوانمردانه حرکاتو تر تاثير لاندی را نه شی.

د افغانستان د کونړونو اسلامی امارت پداسی حال کښی چه د دی پيښی له ټولو غمزپلو ورونو او خويندو سره خپل ځان سهيم بولی، ټول مسلمان او افغان ولس او اسلامی امة ته تعزيت او تبريکی وړاندی کوی او اعلانوی چه د دښمن دا ډول موذيانه اعمال به انشاءالله زمونږ د جهاد مسير بدل نه شی کړای، بلکه هيله ده چه د جهاد صفونه به نورهم پری تقويه شی، الله تعالی فرمائی: «وقاتلوهم حتی لاتكون فتنة ويكون الدين كله لله» د فتنی او شرک او طواغيتو تر امحاء او ديو سوچه اسلامی حکومت ترقيام پوری به زمونږ اسلامی جهاد جاری وی. مونږ د داسی صالحو اسلافو په خط باندی روان يو چه پدی ليار کښی يی شهادت او قربانی خپل سرلوړی او ږری ګڼله.

د افغانستان د کونړونو د اسلامی امارت له خوا

عن ابی بکر رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما ترك قوم الجهاد الا عمهم الله بالعذاب

ترجمه: حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلی دی. هرقوم او ملت چه جهاد پريږدی، پرهغوی باندی به الله تعالی عمومی عذاب نازل کړی.

(د طبرانی د ترغيب په حواله)

د اسعدآباد دغمّنا کی پیښې په مناسبت د دعوت د مجلې د کارکوونکو د تعزیت پیغام

بسم الله الرحمن الرحيم

قال الله تعالى :" أحسب الناس أن يتركوا أن يقولوا امنا و هم لا يفتنون... الايه »

(العنكبوت ـ ٢)

د دعوت د مجلی کارکنان د اسدآباد دالمیی په مناسبت د اسلامی امارت مشرتابه ، د شهداؤ او مجروحینو غمزپلو کورنیو او اسلامی امت ته خپل د تسلیت او تعزیت مراتب تقدیموي او له الله تعالی څخه دوی ته د اجر عظیم غوښتنه کوی ، د اسلامی امارت له قیام نه وروسته د دی منطقی په خلکو د الله تعالی دا لوي آزمایش دي امید دي چه د اسلامی امارت ذمه واران غمزپلی کورنۍ او د دعوت او جهاد د لیاری مؤمن داعیان او مجاهدین په داسی ابتلاآتو کی پخپل پوخ عزم او ټینګ ایمان سره هغه مثالونه قائم کړی کوم چه له دوئ څخه پخوا آنبیاؤ او سلفو صالحینو قایم کړي وه ، مونږه عقیده لرو چه پداسی واقعاتو ، قربانیو او آزمیښتونو باندی داسلامی جهاد او دعوت بنیاد نور هم قوی کیږي او د وینو هر یو څاڅکی چه د اسلامی حریم د تحفظ لپاره بهیږي ، دا به انشأالله د طواغیتو ، کفارو او منافقینو لپاره تندر او د مؤمن نسل او اسلامی ټولنی لپاره د بری زیری وی .

الله تعالی دي د حق د لیاری د ټولو شهیدانو مغفرت او د زخمیانو عاجله شفاء په نصیب کړي. والسلام

اداره

د تنظیم طلبهٔ سلفیه خبرتیا

ټولو ورونو ته خبر ورکول کیږی چه پرانیستی دی ، هیله ده چه ورونه به تنظیم طلبهٔ سلفیه د خپلو یو لړ تردی وروسته له مونږ سره خپله رابطه ستونزو د حل لپاره یو پوست بکس پدی پته وساتی .

P - O - BoX 1397

G - P - O, PESHAWAR, CANTT

د تنظیم طلبهٔ سلفیه مرکزی دفتر

تعزيتي پيغامونه

د کمونيزم د جنايت پيشه مکتب تاريخ له ډيرو جناياتو ډک دی، خو ځينی وخت ئی د جنايت تورږالی دومره زيات شی چه په نسلونو به ئی بشريت له ياده و نه باسی.

د ۱۹۹۱ م کال د اپريل په شلمه نيټه چه د ۱۳۷۰ هـ ش کال د حمل د مياشتی له يو دير شمی ورځی سره ئی سمون درلود، روسی بريځو د اسدآباد ښار په سکڼ ميزائيلو وويشت چه ډير بی گناه انسانان پکښی شهيدان شول.

د **کفارو دغه** جنايت به هيڅکله زمونږ د مسلمان ملت له اذهانو و نه وځی. په ټوله دنيا کښی په دغی، پيښی باندی غمرازی ښکاره شوه او دغه پيښه وغندل شوه، د افغانستان د جهاد او د اسلامی امارت دوستانو په مختلفو اشکالو د افغانستان د کنړونو له اسلامی امارت سره غمشريکی او غمرازی ښکاره کړی او د غمشريکی او غمرازی دغه لړۍ روانه ده. کوم پيغامونه چه تراوسه پوری د ټيلفون يا تحرير او يا د اخبار پذريعه د اسلامی امارت نمايندگی ته رارسيدلی په لاندی ډول دی:

۱ - ورور پروفيسر ساجدمير د پاکستان د اهلحديثو د متحده جمعيت امين العام (لاهور)

۲ - ورور جناب جنرال فضل حق د صوبه سرحد پخوانی وزير اعلی او د سرحد اسمبلی رکن (پيښور)

۳ - ورور جناب قاضی صاحب محمد امين «وقاد» د افغانستان د اسلامی اتحاد امير.

٤ - فضيلة الشيخ احمد شاکر د پاکستان د اهلحديثو د متحده جمعية له مشرانو څخه (لاهور)

٥ - فضيلة الشيخ ميا فضل حق د پاکستان د اهلحديثو د متحده **جمعية امير** (لاهور)

٦ - جناب جنرال رحمت الله «صافی» د ملی اسلامی محاذ د تنظيم غړی.

۷ - د پنجپير د مدرسی د علماؤ وفد د مولوی صاحب محمد طيب په مشری.

۸ - د قندهار د مجاهدينو يوی ډلی د مولوی صاحب غلام محمد «غريب» په مشری.

۹ - د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة د مدينی منوری له نمايندگی څخه د عبدالله او فيضان الله تيلفونی تعزيتی پيغامونه.

۱۰ - د جنوب غرب د حوزی د قوماندانانو ټولنی.

۱۱ - د امريکا د متحده اياﻻتو د نيويارک د اسلامی مرکز مسئول. عبدالرحمن احمد.

۱۲ - الشيخ عبدالله المکاوی د هجرت د مجلی مسئول (د امريکا په متحده اياﻻتو کښی)

۱۳ - محترم ورور منور علی د جمعية احياء منهاج السنة امير.

١٤ - په اروپا کښی د افغانانو د اسلامی ټولنی کارکوونکو (انگلينډ - لايستو جرمنی).

۱۵ - په هاليند کښی د اسلامی مرکز مسئول. عماد الدين بکری **اسماعيل**.

۱٦ - الشيخ عبدالله عبدالقيوم

په مکة المکرمه کښی د جماعة الدعوة الی القرآن والسنة نماینده.

١٧ ـ د پروان د ولایت یو شمیر قوماندانان او سپین ږیری د الشیخ سید عمر په مشری.

١٨ ـ د لغمان د ولایت یو شمیر قوماندانان، علماء او سپین ږیری د مولوی صاحب عبدالهادی په مشری.

١٩ ـ الشیخ عبدالله ناصر د کراچۍ د اهلحدیثو په نمایندگی کښی (جنرل سکرتری د متحده جمعیة اهلحدیث)

٢٠ ـ محترم ورور چوهدری ظهور احمد په کراچۍ کښی د اهلحدیثو فعال کارکوونکی.

٢١ ـ الشیخ عبدالله البرقادی په کولمبیا کښی د اسلامی مرکز مسئول (امریکا)

٢٢ ـ جناب ډاکټر راشد رانداوه. (لاهور)

٢٣ ـ د قندوز د ولایت علماء سپین ږیری او قوماندانان.

٢٤ ـ د قبایلو مشران ـ سپین ږیری او علماء د مولوی صاحب احمد نور په مشری.

٢٥ ـ قاضی صاحب محمد یوسف.

٢٦ ـ قاری شفیق الرحمن/امیر تحریک مجاهدین اسلام (پاکستان).

٢٧ ـ پروفیسور احمد سعید/(لاهور)

٢٨ ـ الشیخ احمد ذکی / (لاهور)

٢٩ ـ محمد یوسف قریشی/ د (کشمیر) د مظفرآباد د الدعوة الاسلامیة مشر.

٣٠ ـ د کشمیری مجاهدینو بی شماره وفدونه.

٣١ ـ د عربی مجاهدینو بی شماره وفدونه.

٢٣ ـ د خلیج د مختلفو ملکونو تیلفونی تعزیتی پیغامونه.

٣٣ ـ د چین د طالبعلمانو گڼ وفدونه.

٣٤ ـ د فلپین د مجاهدینو او طالب العلمانو گڼ وفدونه.

٣٥ ـ د مهاجرینو د مختلفو کمپونو گڼی ډلی.

٣٦ ـ د دیر د منطقی مشران (او علماء د سید عبدالودود په مشری).

٣٧ ـ د سوات علماء، سپین ږیری او مشران د عبدالرحیم په مشری.

٣٨ ـ د خټکو ـ بنون مشران او علماء د حافظ عبدالقادر خټک په مشری.

٣٩ ـ مولوی صاحب محمد شریف (باجوړ)

٤٠ ـ مولوی صاحب محمد یونس (باجوړ)

٤١ ـ استاد عبدالروف (باجوړ)

٣٢ ـ مولوی صاحب محمد طیب (باجوړ)

٣٣ ـ مولوی صاحب نور الله (باجوړ)

٣٤ ـ سردار باچا له وفد سره (دیر)

٣٥ ـ محمود الحسن اف ټیری ضلع کرک تر مشری لاندی د ځوانانو او علماؤ وفد.

٣٧ ـ عبدالمهیمن خټک صدر تحفظ حرمین کمیټی ـ ضلع کرک تر مشری لاندی تعزیتی وفد.

٣٨ ـ د بدخشان د سپین ږیرو او علماؤ یو وفد د مولوی صاحب حمید الله په مشری.

٣٩ ـ له رستم څخه د طالبانو او علماؤ یو وفد د مولوی صاب عبدالسلام په مشری.

٤٠ ـ له پاریس څخه د اسلامی مرکز مسئول (تیلفونی تعزیتی پیغام).

٤١ ـ له بلژیک څخه د اسلامی مرکز مسئول الشیخ یربوزی (تیلفونی تعزیتی پیغام).

٤٢ ـ له واشنگټن څخه الشیخ **عبدالله التمیمی** (تیلفونی تعزیتی پیغام).

د افغانستان د کونړونو د ولایت په مرکز اسدآباد باندی د کابل د دهری رژیم لخوا د سکډ میزائیلو د غمناکی پیښی په باب د پاکستان مشهورو ورځپانو مختلف خبرونه نشر کړی، چه مونږ یی د بعضو ورځپانو د خبرونو غټ غټ ټکی ترجمه کړی او خپلو گرانو لوستونکو ته یی وړاندی کوو:

د اسد آباد په بازار د سکډ میزائیلو حمله، له شپږو سوونه زیات کسان ژوبل، څلور سوه دوکانونه او په سوونو کورونه تباه شول. (وحدت ـ د اپریل ۲۲ مه نیټه)

د افغانستان د گوداگی انتظامیی له خوا تیره ورځ ناڅاپه د افغانستان د آزادی صوبی (کنړ) د مرکز «اسد آباد» په بازار باندی د شپږو نه زیات سکډ میزائیل را گذار کړی شول چه پکښی د څلورو سوونه زیات کسان مړه او د شپږو سوونه زیات کسان سخت ژوبل شول.

په ژوبلو کسانو کښی ډیر د پیښور، خار باجوړ او خواوشا علاقو په هسپتالونو کښی داخل کړی شول. د کونړ په مرکز د سکډ میزائیلو په واقعه کښی (۳۰۰) کسان مړه شول. (د جنگ ورځپانه د اپریل ۲۲ مه نیټه)

د افغانستان د کونړونو د ولایت مرکز اسدآباد د کابل د کمونستی رژیم د واکدارنو لخوا د سکډ میزائیلو په واسطه وویشتل شو چه په نتیجه کښی یی دری سوه کسان مړه او په سلهاو نور سخت ټپیان شول.

د افغان اسلامی خبری اداری د خبر مطابق تر اوسه (۷۰) مړی او د سلونه زیات ټپیان د پیښی له ځایه د باجوړ او پیښور مختلفو روغتونو ته رسول شوی دی، چه زیاته برخه یی د پیښور په دعوت روغتون کښی تر علاج معالجی لاندی دی. اخبار زیاتوی: د کونړونو د ولایت د آزادی نه وروسته د کابل د کمونست رژیم لخوا په هغه ولایت باندی دا لومړی د سکډ میزائیلو حمله وه. د کابل د کمونست رژیم لخوا په

ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن

دعوت

١٣

دجماعة الدعوة الى القرآن والسنة وافكارو خپرونکی

جلد اول

اسدآباد یو ځل بیا د کمونیزم نه هیریدونکی فاجعه ولیده

الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحیم

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ
وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ
وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ
رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ
الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا
مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا
مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا (النساء-۷۰)

ترجمه: اخر څه دلیل دی چه تاسی دالله په لاره
کښی د هغو بی وسو نارینه، ښځو او ماشومانو
په خاطر نه جنګیږئ چه کمزوری کړای شوی تر فشار
لاندی نیول شوی دی او فریاد وُنه کوی چه یا الله!
لدې وطنه چه اوسیدونکی ئې ظالمان دی
مونږ وباسې او له خپل لوری نه زمونږ کوم سرپرست
او مرستندوی پیدا کړې۔